شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۰۹۰ ګڼه / پنجشنبه د محرم‌الحرام ۹مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ٤مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جون ۲۵مه ۲۰۲٦ میلادي

رئیس دوم سیاسی وزارت امور خارجه افغانستان:

سفر هیئت افغان به بروکسل گام مهم در روابط با اتحادیه اروپاست

ذاکر جلالی، رئیس دوم سیاسی وزارت امور خارجه سفر هیئت افغان به بروکسل را یک مرحله مهم در روابط میان افغانستان و اتحادیه اروپا دانسته است. آقای جلالی گفته که این گام پس از توافق میان افغانستان، جرمنی و ناروی برداشته می‌شود؛ توافقی که بر اساس آن دیپلومات‌های افغان در این کشورها فعالیت خود را از سر گرفتند. او در صفحه ایکس نوشته که این تجربه می‌تواند به عنوان یک الگوی عملی برای سایر کشورهای اروپایی در زمینه تعامل با افغانستان مورد استفاده قرار گیرد. آقای جلالی ابراز امیدواری کرده که دیدار هیئت افغان با سران اتحادیه اروپا زمینه‌ساز تعامل پایدار بر اساس احترام متقابل و منافع مشترک شود. این در حالیست که هیئت امارت اسلامی برای نخستین‌بار به بروکسل سفر کرد و در نشست‌ها با نمایندگان اتحادیه اروپا درباره ازسرگیری خدمات قنسولی برای افغان‌های مقیم اروپا، ایجاد اعتماد، حضور مؤثر و حل مشکلات افغان‌هایی که درخواست پناهندگی‌شان در اروپا پذیرفته نشده و با مشکلات روبه‌رو هستند، گفتگو کرده است.

د عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله» له لوري د هرات ښار ماسټر پلان منظور شو

د کور او ښار جوړولو وزارت د ملي جامع پلانونو او ښاري مطالعاتو ریاست د متخصص او مسلکي ټیم له لوري، د هرات ښار ماسټر پلان د هر اړخیزو تخنیکي مطالعاتو، ساحوي ارزونو او د ښاري پراختیا د اړتیاوو او ظرفیتونو له بشپړې څېړنې وروسته د یو کال په موده کې ترتیب شو. دغه ماسټر پلان د کور او ښار جوړولو د وزیر الحاج مولوي نجیب الله حیات حقاني له لوري پیشنهاد او د ریاست الوزراء د مقام له خوا تأیید او د اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله تعالی» له لوري ورمه ورځ منظور شو. د هرات ښار ماسټر پلان له منظورۍ وروسته بېرته د کور او ښار جوړولو وزارت ته وسپارل شو، چې دمګړۍ په تخنیکي ارشیف کې خوندي او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې به د هرات ښاروالۍ ته تسلیم شي. یاده ښاروالي به د دغه ماسټر پلان د تطبیق لپاره خپلې هلې ځلې پیل کړي، چې د کور او ښار جوړولو وزارت به یې د تطبیق له چارو څارنه هم کوي. دا سند، د هرات ښار د ښاري پراختیا له ټولو مهم

... ۷مخ

د هند ۲۰ کسیز سوداګریز پلاوی نږدې راتلونکي کې افغانستان ته راځي

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې رئیس سید کریم هاشمي په نوي ډېلي کې د هند د سوداګرۍ او صنایعو خونې له مسئولینو سره په غونډه کې د افغانستان او هند د اقتصادي اړیکو د لا پراختیا پر لارو چارو خبرې کړي. د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې ویلي، چې دې غونډه کې د دوه اړخیزې ترمنځ د تعامل پر زیاتوالي خبرې شوې دي. ښاغلي هاشمي افغانستان کې د پانګونې شته فرصتونو ته په اشارې، له هندي پانګوالو غوښتي، چې افغانستان کې پانګونه وکړي. همدا راز د هند د سوداګرۍ او صنایعو خونې د درملو جوړولو، لوژستیک، ټرانسپورټ او صنعتي توکو برخه کې همکارۍ ته چمتووالی ښودلی او په سوداګرۍ پر زیاتوالي، د ګډې پانګونې په جذب، د ټکنالوژۍ پر را لېږد، په صنعتي همکاریو او د دواړو هېوادونو د خصوصي سکتورونو نږدې راتلونکي کې یې افغانستان ته د ۲۰ کسیز سوداګریز پلاوي د سفر خبر ورکړی دی. په خبرپاڼه کې راغلي چې هندي لوري

... ۷مخ

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت:

کابلی تفسیر له نویو اصلاحاتو سره چاپیږي



شریعت: د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مسئولین وایي، چې کابلی تفسیر به په نږدې ورځو کې د امیرالمؤمنین «حفظه الله» د حکم پر اساس، له لومړۍ نسخې څخه له ځینو سمونو سره چاپ شي. دوی وایي چې تېرو چاپ شویو کابلي تفسیرونو ځینې ستونزې لرلې، چې دا ځل به یې لومړنۍ نسخې ته په کتو املا، یاګاني، تخریج، د قرانکریم د ایاتونو د شمېر او ځینې نورې ستونزې، چې پخوا یې لرلې، حل او بازار ته به وړاندې شي. فرهنګپالان هم کابلی تفسیر د اوسنیو تفسیرونو او ژباړو د ستونزو یوه ښه حل لاره ګڼي او ټینګار کوي، چې باید د ټولو هېوادوالو او علماوو یوازنۍ ادرس او په اسانۍ د لاسرسي وړ وګرځي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت اړوند، د بیهقي کتاب خپرولو رئیس عبدالعلیم ځانواک مفتي زاده شریعت ورځپاڼې ته ویلي، چې دغه تفسیر موږ تر ډېره لیکلی و، خو بیا د امیرالمؤمنین «حفظه الله» له خوا حکم وشو، چې باید له سره، لومړۍ نسخې ته په کتو په ډېر دقت او سمونو سره ولیکل شي. نوموړي پر دغه حکم سربېره داسې راته

... ۷مخ

شویګو:

د نشه يي توکو پر ضد د اسلامي امارت مبارزه د ستایلو وړ ده

د روسیې د امنیت شورا سرمنشي سرګي شویګو ویلي: اسلامي امارت له نشه‌يي توکو سره د مبارزې برخه کې پر خپلو ژمنو عمل کړی او د دې پدیدې تولید او قاچاق کې یې د پام وړ مخنیوی کړی. سرګي شویګو دغه څرګندونې هند ته له سفر وروسته له خبریالانو سره په خبرو کې کړې، نوموړي زیاته کړې، په دې برخه کې افغان چارواکي توانېدلي، چې تر ۹۰ سلنې پورې د افغانستان له خاورې د

... ۷مخ

پکتیکا پوهنتون کې د دوو مهمو پروژو پاتې چارې پیل شوې

په پکتیکا پوهنتون کې د اساسي زېربنایي او نیمه کاره پروژو د بشپړتیا په موخه د دوو مهمو ودانیزو پروژو عملي چارې پیل شوې. په دغو پروژو کې د شاوخوا ۲۱ میلیونه او ۷۸۰ زره افغانیو په ارزښت د پوهنتون

... ۷مخ

د خلکو خبرتیا او د نظام اطاعت؛
د دواړو ترمنځ د توازن اړتیا
۲مخ

پر امام حسین «رض» باندې چا ویر پیل کړ؟
٤مخ

افزایش قابل توجه حاصلات میوه‌های تازه در هرات

ریاست زراعت، آبیاری و مالداری هرات می‌گوید که برداشت میوه‌های تازه در این ولایت در سال جاری افزایش یافته و همزمان تلاش‌ها برای توسعه بازارهای داخلی و خارجی و افزایش صادرات محصولات زراعتی ادامه دارد. نصیر احمد قاضی‌زاده، متخصص امور زراعتی ریاست زراعت هرات می‌گوید: هرات با داشتن بیش از ۲۸ هزار هکتار باغ های میوه، از مهمترین مراکز تولید میوه‌های تازه در کشور به‌شمار می‌رود و سالانه هزاران تُن انواع میوه، از جمله انگور، انار، زردآلو، آلو، سیب و شفتالو در این ولایت برداشت می‌شود. به گفته وی، بخش عمده این محصولات در شهرک صنعتی هرات و ولایت‌های حوزه جنوب‌غرب کشور نیز به مصرف می‌رسد. محمد یوسف امین، مدیر اجرایی اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری هرات می‌گوید که این نهاد برای افزایش صادرات محصولات

... ص۷

سرمقاله

د داېمن امنیت په برکت؛ د صنعت او ابادۍ نوې هڅې!

امنیت د الله تعالی له نعمتونو څخه یو ستر نعمت دی. هره ټولنه چې له امنیت څخه برخمنه وي، هلته د ژوند، پرمختګ، هوساینې، ورورولۍ او ابادۍ زمینه برابرېږي. امن د انساني ټولنې د ثبات او پرمختګ اساسي شرط دی، ځکه د امنیت په شتون کې خلک په ډاډه زړه خپلو اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي فعالیتونو ته دوام ورکولی شي.

په هغو سیمو او هېوادونو کې چې امنیت ټینګ وي، د پرمختګ او رغونې چارې په چټکۍ سره پر مخ ځي. پانګوال د خپلو پانګو اچونو لپاره مناسب فرصتونه پیدا کوي، سوداګري پراخېږي، د کار زمینې برابرېږي او د خلکو اقتصادي وضعیت ښه والی مومي. همداراز د قانون حاکمیت او عدالت د دې لامل ګرځي چې د خلکو سر، مال او عزت خوندي پاتې شي او ټولنه د سوکالۍ پر لور ګامونه واخلي.

له نېکه مرغه، د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته په افغانستان کې سراسري امنیت ټینګ شوی او د هېواد په بېلابېلو برخو کې د اقتصادي فعالیتونو لپاره مناسب چاپېریال رامنځته شوی دی. د همدې امنیت له برکته کورنیو او بهرنیو پانګوالو افغانستان ته پاملرنه زیاته کړې او په ګڼو اقتصادي او سوداګریزو پروژو کې یې پانګونه پیل کړې ده.

د بېلګې په توګه، ورمه ورځ په پکتیکا ولایت کې د لسو میلیونو ډالرو په ارزښت د یوه ستر سوداګریز مارکېټ د جوړېدو چارې پیل شوې. همدارنګه په لوګر ولایت کې د کرومایټو د پروسس یوه کارخونه د یو میلیون ډالرو په بدل کې پیل شوه، په زابل ولایت کې د یو سوداګریز مارکېټ پروژه هم د یو نیم میلیون ډالرو په بدل کې پیل شوه او په خوست ولایت کې د خصوصي سکتور له لوري د معتادینو د درملنې لپاره د یو روغتون پرانیسته د څلورښت زره ډالرو په بدل کې وشوه. دا او دې ته ورته نورې پروژې ښیي چې امنیت د اقتصادي ودې او بنسټیز پرمختګ لپاره څومره مهم او اغېزمن

... ص۷

جلال‌اباد کې د تقلبي حیواني درملو کارخونه کشف او په تور یې درې تنه ونیول شول

جلال‌اباد ښار کې ځایي مسئولینو ویلي: هغه کارخونه کشف او په تړاو یې درې تنه ونیول شول چې، حیواني درمل یې په تقلبي ډول جوړول او بیا یې پرې د ښه پلور په موخه د بهرنیو هېوادونو سټیکرونه لګولي وو. د مسئولینو په وینا دغه کارخونه پرون کشف او ۳۵۰۰ کارتنه تقلبي درمل هم ترې ترلاسه او د دغه ولایت کې د کرنې ریاست ته تسلیم شوي دي. د یاد ولایت د رسنیز دفتر په خبرپاڼه کې راغلي، چې امنیتي ځواکونو د دغې کارخونې په تړاو درې تنه نیولي، چې له لومړنیو څېړنو وروسته به عدلي او قضایي ارګانونو ته وسپارل شي. له دې

... ۷مخ

واگذاری ۱۰۰۰ جریب زمین دولتی برای پروژه زراعتی در سمنگان

در راستای جلب سرمایه‌گذاری‌های داخلی و خارجی، تقویت اعتماد سرمایه‌گذاران و فراهم‌سازی فرصت‌های کاری برای باشندگان محل، یک‌هزار جریب زمین زراعتی در ولسوالی خلم ولایت

... ص۷

پاکستاني رژیم آن پر تش لاسو مېرمنو هم رحم نه کوي!

مفتي محمد الیاس فاتح

دا مضمون د اسلامي مسئولیت له مخې لیکم، چې د نړۍ مسلمانان د یو جسد په څېر دي، چې کوم ځای درد وي، ټول وجود ورسره دردېږي. بیا داسې درد چې د مسلمانو خویندو عزتونه، عفتونه، کرامتونه پر کفري یرغلګرو پلورل کېږي او یا د کفري اجرتیانو په زندانونو کې لیلامېږي، هغه هم په عمري قید سره؛ زه به شکر ادا کړم که د قلم په جهاد مې غاړه خلاصه شي.

له دې واقعیته به یې پیل کړو چې په نړۍ کې دوه سیاسته روان دي؛ یو اسلامي او بل کفري.(د اسلامي سیاست نمونه په افغانستان کې موندلی شو او د کفري سیاستونو بېلګې په پاکستانی چوڼۍ کې کتلی شو).

اسلامي سیاست د انسان د دین، کرامت، عزت او حقوقو پر اساس ولاړ دی. په اسلام کې د انسانانو حقوق ډېر عادلانه او واضح دي او د ښځو لپاره ځانګړې پاملرنه شوې ده؛ د ښځې عزت، عفت او حفاظت د اسلامي سیاست، نظام او ټولنې له مهمو مسئولیتونو څخه ګڼل کېږي.

څکه رسول الله ﷺ د خپل ژوند په وروستیو شېبو کې، د حجة الوداع په ستره تاریخي وینا کې ټول امت ته دا وصیت وکړ: ژباړه: د ښځو په اړه د خیر او نېکۍ سپارښتنه درته کوم. [ابن ماجه: ۱۸۵۱]

دا نبوي لارښوونه څرګندوي چې د ښځو عزت، حفاظت او د هغوی د حقونو مراعات د اسلامي ټولنې له بنسټیزو مسئولیتونو څخه دي. د اسلامي تاریخ په اوږدو کې د ښځو د امنیت، عفت او کرامت ساتنه یو مهم اصل بلل شوی دی. په اسلام کې ډېرې غزاګانې او جګړې د ښځو د حفاظت او نصرت په خاطر ترسره شوې دي.

رسول الله ﷺ له یهودانو سره په دې غزا ترسره کړه چې د یوې مسلمانې ښځې له مخ څخه یې پړونی (ټیکری) لرې کړی و.

په اموي خلافت کې پر سند ستره او فاتحانه جګړه له دې امله رامنځته شوه، چې د یوې مسلمانې پېغلې د حفاظت مسئله پېښه شوه.

د عباسي خلافت پاچاه معتصم بالله څکه پر رومیانو ستره جګړه ترسره کړه چې د (وامعتصما!) مسلمانې زندانۍ غږ یې وجدان ولړزاوه.

د ربښتینو مسلمانانو په اند، د اسلامي سیاست یوه ستره فریضه او ځانګړنه دا ده چې د مسلمانو مېرمنو امنیت، عزت او مصئونیت ساتل شوی وي او مادي او معنوي شتمنۍ یې خوندي وساتل شي؛ نه دا چې مسلمانې ښځې د سیاسي معاملو او تبلیغاتو وسیله وګرځول شي، د شرق او غرب د هوسونو لمنو ته وغورځول شي او یا د کفارو په اشارو او اوامرو یې عزت لیلام او زندانونو ته وغورځول شي.

خو د اوسنۍ نړۍ په ډېرو سیاسي نظامونو کې ښځې لا هم د سیاسي سیالیو، استخباراتي لوبو او زورواکو کړیو قرباني کېږي. کله زندانونو ته اچول کېږي، کله د سیاسي فشارونو ښکار ګرځي او کله یې غږ د زور او ځواک تر سیوري لاندې خاموشېږي، چې یوه برخه یې مستقیماً د کفري رژیمونو سیاست دی او دویمه برخه د هغوی د اجرتیانو او غلامانو ده، چې پاکستانی رژیم یې ښکاره تورمخې څېره ده.

د تأسف په همدې لړ کې د ډاکټرې عافیې صدیقي نوم د ډېرو مسلمانانو لپاره د درد او مظلومیت نښه ده. هغه مسلمانه ښځینه ډاکټره چې له خپلو ماشومانو سره پاکستاني پوځي رژیم د ۵۰ زرو ډالرو په بدل کې پر امریکایي یرغلګرو وپلورله او ټول عمر په امریکایي زندان کې د خواږه ژوند ترخې شېبې تېروي.

او د هغې قضیه د اسلامي نړۍ په سیاسي او ټولنیزو بحثونو کې یو مهم ځای لري. د هغې د برخلیک په اړه د مسلمانانو زړونه زخمي او د بې وسۍ اوښکې ورته صدقه کوي.

همدارنګه ډاکټره مهرنګ د هغو زرګونو کورنیو د مظلومیت غږ و، چې د پاکستاني رژیم په لاس وژل شوي، زنداني شوي او ورک تری تم شوي دي.

د هغې فعالیتونه په سوله ییز ډول او د ښځو د لاریونونو په شکل کې وو، خو دې دویم اسرائیلي رژیم دا مظلومانه فریاد هم نشو اورېدلی؛ څکه یې له یو کال زندان تعذیبونو او تهدیدونو وروسته په ټول عمر بند محکومه کړه.

بل لور ته ګلمکۍ (ای ایم ملاله) یوسفزۍ د پاکستان د سیاسي او ټولنیزو بحثونو یوه بله مطرح شوې کرېخولې څېره ده، چې په ښکاره شعار خان د ښځو د حقوقو استازې بولي، خو په حقیقت کې له اوله د یهودانو د مؤسساتو له لارې د طالبانو په مقابل کې فعاله جاسوسه وه، اوس له کفري سټېژ څخه د اسلامي امارت په خلاف د چیغو نارو چټله دنده پر مخ وړي او دا بدرنګه څېره د سیمې د سیاسي او فکري کشمکش یوه ناکامه او شرېدلې برخه ګڼل کېږي.

د پاکستان پر پوځي او سیاسي نظام له کلونو راهیسې پښتانه ، سندي او بلوڅ قومونه دا نیوکه کوي او په وړاندې یې مبارزه کوي چې د بشري حقونو، سیاسي عدالت او د مخالفو غږونو د زغم په برخه کې ناکام او خپل قومونه او خلک د امریکا خوشالولو ته قرباني کوي او بدل کې یې پنجاب ته ګټې رسېږي.

د لکونو په تعداد پښتانه، بلوڅ او سندیان دې رژیم ورک کړي، زنداني کړي او وژلي دي، اوس دی د جبر له لارې خپلې بدې کارنامې پټوي، خو ورځ په ورځ لا پسې رسوا، بدنام او وسله وال مقاومت سره مخ کېږي، خو دوی یې د خپل ناکام سیاست له مخې په خپل لاس کرلی اور او سکروټې د افغانستان په اسلامي امارت ورتپي.

دا حقیقت هر انسان ته ثابت دی، هر هغه سیاست چې د عدالت پر ځای زور، د حق پر ځای باطل او د خلکو پر ځای د یرغلګرو ګټې خوندي کړي، د تاریخ په محکمه کې بریالی نه شي پاتې کېدای.

قومونه او ملتونه د عدالت، صداقت او انساني کرامت پر اساس ژوندي پاتې کېږي او هغه نظامونه چې له دغو اصولو واوړي، د خلکو له نیوکو، جهادي پاڅون او تاریخي محاسبې سره مخامخ کېږي.

له همدغه ځایه ده، پاکستان هغه مظالم چې له بابړې ، قصه خوانۍ او تر وزیرستان، خیبر، سوات، باجوړ او تر بلوچستان او سند پورې له اوله تر اوسه ترسره کړي دي، د هغو ټولو وحشتونو، ظلمونو او یرغلیزو سیاستونو سکروټې کرلي اوس یې اورونه په لمبو راغلي چې دې پوځي رژیم ته به د جهنم یوه خفره جوړېږي او تاریخ به د دې ایت مصداق په دنیا هم لیکي چې: ژباړه: او ظالمانو لره هېڅ مرستندویان نشته. [آل عمران: ۱۹۲]

د خلکو خبرتیا او د نظام اطاعت؛ د دواړو ترمنځ د توازن اړتیا

قاري بدرالدین فراهي

په هر نظام کې د خلکو او حکومت ترمنځ د باور اړیکه د ثبات، پرمختګ او ټولنیز نظم له مهمو بنسټونو څخه ګڼل کېږي. کله چې خلک د خپلو مشرانو او ادارو له پرېکړو، کړنو او تګلارو څخه پر وخت خبر وي، نو د اطاعت، همکارۍ او ملاتړ روحیه هم پیاوړې کېږي. په دې وروستیو کې د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري پر دولتي کارکوونکو د ځیرکو موبایلونو د کاروني محدودیت او بندیز د عامو خلکو ترمنځ بېلابېلې پوښتنې راولاړې کړې دي. که څه هم د دې پرېکړې تر شا امنیتي، اداري او د معلوماتو د خوندیتوب اړخونه موجود دي، خو له بلې خوا د خلکو د خبرتیا اړتیا هم هغه موضوع ده چې باید له پامه ونه غورځول شي.

د تاریخ په اوږدو کې هر هغه نظام چې له خلکو سره یې د معلوماتو شریکولو ته ارزښت ورکړی، د خلکو ملاتړ او اعتماد یې هم تر لاسه کړی دی. خلک غواړي پوه شي چې په هېواد کې څه روان دي، کومې پرېکړې کېږي، د دوی د ژوند لپاره څه بدلونونه رامنځته کېږي او راتلونکی مسیر به څه ډول وي. کله چې معلومات په روښانه او منظم ډول خلکو ته ورسېږي، نو د اوازو، اټکلونو او ناسمو تبلیغاتو مخه هم نیول کېږي.

نننۍ نړۍ د اړیکو او معلوماتو نړۍ ده. که څه هم ځیرک موبایلونه د معلوماتو د خپرېدو له ټولو چټکه وسیله بلل کېږي، خو د خلکو د خبرولو لپاره یوازې همدا یوه لاره نه ده. نظام کولای شي د راډیوګانو، چاپي رسنیو، رسمي اعلامیو، د جوماتونو له منبرونو، عامه غونډو او د عامه اړیکو د فعالو مرکزونو له لارې هم معلومات خلکو ته ورسوي. مهمه خبره دا ده چې د معلوماتو رسولو لړۍ منظمه، چټکه او د باور وړ وي.

په اسلامي ټولنه کې د اطاعت موضوع ځانګړی ارزښت لري. اسلام مسلمانان د مشروع نظام، قانون او نظم رعایت ته رابولي، خو اطاعت هغه مهال لا پیاوړی کېږي چې خلک د پرېکړو په فلسفه او موخو پوه شي. کله چې د یوې پرېکړې علت، ګټه او اړتیا خلکو ته تشریح شي، نو د هغې منل هم اسانه کېږي. له همدې امله د هر نظام لپاره دا مهمه ده چې د خپلو پالیسیو په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونه ولري.

له بلې خوا، د معلوماتو نشتوالی کله ناکله د اوازو د خپرېدو زمینه برابروي. کله چې رسمي معلومات کم وي، غیر رسمي سرچینې د تشې د ډکولو هڅه کوي او دا چاره کله ناکله د ناسمو معلوماتو د خپرېدو سبب ګرځي. له همدې امله د نظامونو لپاره غوره ده چې د معلوماتو تشه پخپله ډکه کړي او خلکو ته پر وخت دقیق معلومات وړاندې کړي.

د اسلامي امارت لپاره هم دا یوه مهمه اړتیا ده چې د خلکو د خبرتیا سیستمونه نور هم پیاوړي کړي. د وزارتونو او ادارو ویاندویان باید منظم معلومات خپاره کړي، د خلکو پوښتنو ته ځوابونه وړاندې کړي او د هېواد د مهمو موضوعاتو په اړه روښانه دریځونه بیان کړي. هر څومره چې د حکومت او خلکو ترمنځ د اړیکو پلونه پیاوړي وي، هغومره به د باور فضا پراخه او د اطاعت کچه لوړه وي.

همدارنګه د علماوو، قومي مشرانو او د ټولنې د اغېزناکو شخصیتونو رول هم د خلکو د پوهاوي په برخه کې مهم دی. دوی کولای شي د حکومت او ولس ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا وسیله وګرځي او د مهمو پرېکړو په وضاحت کې مرسته وکړي. په ځانګړي ډول په هغو سیمو کې چې رسنیز امکانات محدود وي، دغه اشخاص د معلوماتو د لېږد مهمه سرچینه ګرځېدای شي.

د نظام بریا یوازې په قوانینو او مقرراتو پورې نه تړل کېږي، بلکې د خلکو په باور او ملاتړ هم ولاړه ده. کله چې خلک ځان د نظام برخه احساس کړي او ډاډه وي چې د دوی د پوهاوي حق ته درناوی کېږي، نو د همکارۍ او اطاعت روحیه پکې لا پیاوړې کېږي. برعکس، که د خلکو او ادارو ترمنځ واټن زیات شي، د باور فضا هم اغېزمنېدای شي.

په پایله کې ویلای شو چې د ځیرکو موبایلونو محدودول یا بندول د نظام یوه اداري پرېکړه ده، خو د دې ترڅنګ د خلکو د خبر ساتلو اړتیا هم یوه نه جلا کېدونکې مسئله ده. اسلامي امارت او هر بل نظام باید هڅه وکړي چې د معلوماتو رسولو اغېزمنې لارې پیاوړې کړي، د عامه پوهاوي کچه لوړه کړي او خلکو ته دا احساس ورکړي چې د هېواد له مهمو حالاتو او پرېکړو څخه پر وخت خبرېږي. همدا چاره د ولسي باور، عمومي یووالي او د نظام د مشروع اطاعت د پیاوړتیا لپاره بنسټیز ارزښت لري.

افغانستان؛ سرزمین ایمان و استقامت اسلامی

امان الدین فرخاري

الحمدلله افغانستان امروز به عنوان سرزمینی شناخته می‌شود که در آن دین اسلام و ارزش‌های اسلامی جایگاه اساسی در زندگی مردم دارد. مردم این کشور قرن‌هاست که با ایمان راسخ به اسلام، محبت به قرآنکریم و پابندی به سنت پیامبر اکرم صلی‌الله علیه وسلم زندگی کرده‌اند و این روحیه دینی در جامعه همچنان زنده و پررنگ باقی مانده است. فضای عمومی جامعه افغانستان در سال‌های اخیر بیش از پیش رنگ و بوی دینی گرفته و بسیاری از مردم تلاش می‌کنند زندگی فردی و اجتماعی خود را مطابق اصول اسلامی تنظیم کنند.

در این میان، تطبیق شریعت اسلامی در ساختار اجتماعی و حقوقی کشور برای بسیاری از مردم یک موضوع مهم و اساسی محسوب می‌شود. باور عمومی در میان بخش بزرگی از جامعه این است که شریعت اسلامی می‌تواند زمینه‌ساز عدالت، نظم اجتماعی، کاهش فساد و تقویت اخلاق عمومی باشد. بر همین اساس، توجه به احکام اسلامی در عرصه‌های مختلف زندگی، از جمله معاملات، روابط اجتماعی و رفتارهای فردی، در جامعه بیشتر دیده می‌شود و مردم آن را بخشی از هویت دینی خود می‌دانند.

امنیت نیز یکی از موضوعات مهم و اساسی در زندگی مردم افغانستان است. پس از سال‌ها جنگ، ناامنی و مشکلات گسترده، بسیاری از شهروندان امروز احساس می‌کنند که شرایط امنیتی در کشور نسبت به گذشته تغییر کرده و امکان زندگی عادی در بخش‌های زیادی از کشور فراهم شده است. امنیت برای مردم افغانستان یک نعمت بزرگ محسوب می‌شود، زیرا در سایه امنیت است که خانواده‌ها می‌توانند با آرامش زندگی کنند، کودکان به آموزش دسترسی داشته باشند و فعالیت‌های اقتصادی و اجتماعی رشد نماید. از این دیدگاه، حفظ امنیت و ثبات در کشور یکی از نیازهای اساسی جامعه به شمار می‌رود.

نقش علماء در جامعه افغانستان همواره بسیار مهم بوده است. علماء به عنوان راهنمایان دینی، در آموزش مسائل شرعی، هدایت مردم به سوی ارزش‌های اسلامی و حفظ هویت دینی جامعه نقش برجسته‌ای ایفا کرده‌اند. حضور و تأثیرگذاری علماء در امور اجتماعی باعث شده است که بسیاری از مردم در تصمیم‌گیری‌های دینی و اخلاقی به آنان رجوع کنند و از رهنمودهای آنان در زندگی روزمره استفاده نمایند. این جایگاه تاریخی علماء در افغانستان، نشان‌دهنده پیوند عمیق جامعه با دین اسلام است.

امر به معروف و نهی از منکر نیز یکی از اصول مهم اسلامی است که در جامعه اسلامی به عنوان وسیله‌ای برای اصلاح فرد و جامعه شناخته می‌شود. هدف از این اصل، گسترش نیکی‌ها، جلوگیری از رفتارهای ناپسند و تقویت روحیه مسئولیت‌پذیری در میان مردم است. در جامعه افغانستان، این اصل برای بسیاری از افراد به عنوان بخشی از فرهنگ دینی و اجتماعی مطرح بوده و تلاش می‌شود تا ارزش‌های اخلاقی در زندگی عمومی تقویت گردد.

افغانستان کشوری با تاریخ طولانی، فرهنگ غنی و هویت عمیق اسلامی است. مردم این سرزمین در طول تاریخ با چالش‌ها و سختی‌های فراوان روبه‌رو بوده‌اند، اما همواره ایمان، صبر و پابندی به ارزش‌های دینی خود را حفظ کرده‌اند. این ویژگی‌ها باعث شده است که جامعه افغانستان همچنان دارای پیوندهای قوی دینی و اجتماعی باقی بماند. امید مردم این است که کشورشان در آینده در سایه وحدت، همدلی، امنیت و ارزش‌های اسلامی به سوی پیشرفت، رفاه و ثبات بیشتر حرکت کند و نسل‌های آینده در فضایی آرام و سازنده زندگی نمایند.

د زغم، حکمت او ملي یووالي اړتیا

محمد امین حیدري

په ټولنه کې د دعوت، اصلاح او مثبت فکري بدلون له ټولو اغېزمنه لاره دا ده چې خلک د حکمت، نرمۍ، ښو اخلاقو او نېک چلند له لارې د خیر او حق لوري ته راوبلل شي. اسلام د رحمت، حکمت او د زړونو د ګټلو دین دی. الله تعالی فرمایي: «ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ...»(النحل: ۱۲۵)

د دې الهي لارښوونې له مخې، دعوت او اصلاح باید د حکمت پر بنسټ ولاړه وي. حکمت دا معنا لري چې حقایق د مناسب وخت، مناسبې طریقې او اغېزمنې ژبې له لارې وړاندې شي. داعیان او د اصلاح مسئول کسان باید د علم، زغم، صبر او ښو اخلاقو له لارې خلک خیر ته راوبولي، څکه د دعوت موخه یوازې د خبرو رسول نه، بلکې د خلکو زړونو ته لاره پیدا کول او د ټولنې اصلاح ده.

د رسول الله ﷺ مبارک ژوند د نرمۍ، رحمت او حکیمانه چلند غوره بېلګه ده. هغه ﷺ به له خلکو سره په داسې طریقه چلند کاوه چې د هغوی زړونه به یې خپلول او د اصلاح زمینه به یې برابروله. له همدې امله هر داعي او مصلح ته پکار ده چې د دعوت په لاره کې د حکمت، حوصلې او ښه تعامل اصول مراعات کړي.

په اوسنیو شرایطو کې، په ځانګړي ډول په افغانستان کې چې ولس د اوږدو ستونزو، جګړو او اقتصادي ننګونو له امله سخت زیانونه لیدلي، د زغم، یووالي او متقابل احترام اړتیا له بل هر وخته زیاته ده. په ټولنیزو رسنیو او عامه بحثونو کې توندې خبرې، بې ځایه نیوکې او سپکوونکې ژبه د اصلاح پر ځای د اختلافاتو د زیاتېدو سبب ګرځي. غوره دا ده چې اختلافات د حکمت، دلیل او ښو اخلاقو له لارې مدیریت شي.

د ټولنې اصلاح یو تدریجي بهیر دی. هغه ولس چې له سختو حالاتو تېر شوی وي، تعلیم، عدالت، اقتصادي وده، امنیت او ټولنیزو خدمتونو ته اړتیا لري. کله چې خلک د نظام له لوري عملي خدمت، عدالت او د مسئولیت احساس وویني، د مثبت بدلون ملاتړ یې لا پیاوړی کېږي. د بېوزلو، یتیمانو، کونډو، معلولینو او اړمنو خلکو لاسنیوی، د تعلیم پراختیا او د کاري فرصتونو برابرول د ټولنې د ثبات مهم عوامل دي.

همداراز، هېڅ انسان باید د خپل علم، سابقې یا ظاهري حالت له امله پر نورو د برترۍ احساس ونه کړي. انسانان ټول نیمګړتیاوې لري او د حساب او قضاوت وروستی اختیار یوازې د الله تعالی په لاس کې دی. د نورو سپکاوی او تحقیر د اصلاح لاره نه ده؛ بلکې غوره لاره دا ده چې خلک په ښه توګه او په نصیحت، نرمۍ او حکمت سره خیر ته وهڅول شي.

هغه کسان چې له موږ سره په ځینو مسئلو کې اختلاف لري، د همدې وطن خلک دي او د هغوی د اصلاح او خیر غوښتنه باید زموږ هدف وي. د اسلامي ارزښتونو پیاوړتیا، ملي یووالی او ټولنیز ثبات هغه وخت ښه ټینګېږي چې د خلکو ترمنځ د احترام، ورورولۍ او مسئولیت احساس پیاوړی شي.

حقیقي بریا یوازې په خبرو او بحثونو کې نه ده؛ بلکې هغه وخت ده چې زموږ ټولنه له ستونزو ووځي، ماشومان د زده کړې فرصتونه ولري، اړمنې کورنۍ له ستونزو راووځي او هر وګړي ته د عزتمن ژوند زمینه برابره شي. د ولس خدمت، عدالت، ښه اخلاق او د خلکو ستونزو ته پاملرنه د هرې بریالۍ ټولنې بنسټونه ګڼل کیږي.

موږ باید هېر نه کړو چې د تېرو جګړو او ناخوالو اصلي زیان ولس ته رسېدلی دی. ګڼې کورنۍ زیانمنې شوې او ډېر خلک له اقتصادي او ټولنیزو ستونزو سره مخ دي. له همدې امله عقل، شرعي لارښوونې او ملي مصلحت دا غوښتنه کوي چې د اختلاف پر ځای د یووالي، زغم او تفاهم لاره غوره کړو.

افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی. دا وطن د متقابل احترام، شرعي عدالت، ورورولۍ او ګډ کار له لارې پرمختګ کولی شي. نن ورځ زموږ اړتیا دا ده چې یو بل واورو، د اصلاح لپاره حکمت غوره کړو او د یوه باعزته، باثباته او پرمختللي افغانستان لپاره ګډ مسئولیت ادا کړو.

راځئ چې نور د کرکې، پېغور او وېش پر ځای؛ د خیر غوښتنې، حکمت او یووالي فرهنګ پیاوړی کړو.

الله تعالی دې موږ ټولو ته د حق د پېژندلو، د حکمت د کارولو او د خلکو د خدمت توفیق راکړي. آمین.

روسیه دې د نیمګړو پروژو بشپړولو او نوې پانګونې ته تشویق شي

حبيب الرحمن رحيمي

روسیه هغه هېواد چې د اروپا او اسیا په شمال کې خپل شتون رابښيي او د نړۍ له ټولو پراخ ملک بلل کېږي. چېرې چې هوا ډېره سړه ده، مګر بله خوا یاد هېواد په نړیوالو معاملو کې تل یو اړخ او محور بلل شوی دی، نه تنها دا، بلکې د ټکنالوژۍ ، صنعت او ځان بسیاینې په برخه کې هم د نړۍ مخکښ او سیال هېواد دی چې له ټولو ښه او ښکاره بېلګه یې سیاست دی چې په نړیواله سیاسي موازنه کې ځانګړی ځای لري .

روسیه د افغانانو لپاره نوی هېواد نه دی، بلکې هغه هېواد دی چې له څو پېړیو راهیسې دواړو هېوادونو خپلو ګټو ته په کتو سړې او تودې اړیکې پاللې دي، مګر د یادونې وړ ده چې په افغانستان کې د اسلامي امارت په راتګ سره لومړی هېواد شو چې د افغانستان اوسنی حکومت یې په رسمیت پېژندلی دی او د اړیکو شبکه یې لا پسې غځولې ده.

دا په داسې حال کې چې د افغانستان او روسیې اړیکې په سیمه کې د متقابلو ګټو، خوندیتوب او د اقتصادي همکاریو پربنسټ ولاړې دي، دواړه هېوادونه په کابل او مسکو کې د ډیپلوماتانو په فعال حضور سره خپلې چارې مخته وړي. که څه هم روسیه د سیمه ییز اتصال د یو شمېر پروژو مالي او تخنیکي ملاتړ کوي، مګر په داسې حال کې چې د پانګونې او د هېواد د رغولو لپاره له هر وخته ښه شرایط رامنځته شوي دي، نو باید له دې زرینې موقع څخه په لوړه کچه ګټه واخیستل شي او د نوموړي هېواد حکومت او پانګوال دې ته لېوال کړي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي او د دې تر څنګ د یاد هېواد رهبري پر دې قانع کړي او وېې هڅوي ترڅو ټولې هغه پروژې چې له جګړو څخه د مخه کلونو کې تر کار لاندې وې بیا ځلې لپاره ورغوي او نیمګړې پروژې تکمیل کړي چې ښکاره بېلګه یې د غزني ولایت د سردې بند دی چې د یادو پروژو په تطبیق سره به نه تنها هېواد پرمختګ وکړي، بلکې په زرګونو هېوادوالو ته به د کار زمینه برابره شي، کوم چې د هېواد له خوړې غبږې لرې په پردیو وطنونو کې د حلالې ډوډۍ په ګټلو پسې شپې او ورځې تېروي.

پاتې دې نه وي چې دا هېواد د کانونو د استخراج په برخه کې هم پوره وړتیا لري، کوم څه ته چې افعانان دا مهال زیاته اړتیا لري باید ترې ګټه واخیستل شي، مګر تنها د معدنونو استخراج هېواد صنعتي کولی نشي، بلکې په پخو موادو بدلولو سره دې د صنعت څرخ په لا ګړندیتوب کې ترې مرسته وغوښتل شي .

تأثير موج گرما بر زندگی اجتماعی و اقتصادی شهروندان

یعقوب کوهکن

در فصل تابستان با تابش آفتاب و افزایش دما، خطرات به دلیل هوای گرم به طور فزاینده آشکار می‌شود. در حالی که تابستان، آفتاب سوزان و فعالیت‌های خارج از منزل را به هم‌راه دارد، خطرات بالقوه برای سلامت ناشی از دمای گرم نیز پدیدار می گردد؛ به‌ویژه زمانی که دما به سطح شدید افزایش می‌یابد.

هوای گرم معمولاً در اثر گرم شدن تابش آفتاب بر سطح و جو زمین ایجاد می‌شود. این امر می تواند تحت تاثیر عواملی مانند روبرو شدن محور زمین، بلند رفتن میزان گازهای گرم کننده زمین در جو و الگوهای طبیعی آب و هوا مانند گرم شدن کره زمین باشد. انجام اقدامات احتیاطی چون: تامین آب مورد نیاز بدن، اجتناب از فعالیت‌های بیش از حد در فضای باز و استفاده از محافظت در برابر آفتاب می‌تواند این خطرات را به میزان قابل توجهی کاهش دهد.

مقابله با گرمای شدید تابستان نیازمند رعایت برخی از نکات کلیدی در زمینه تغذیه سالم، حفاظت از سلامت فردی و مدیریت دمای محیط زندگی می باشد. در ضمن کلید اصلی برای در امان ماندن از گرمازدگی، کاهش زمان قرار گرفتن در معرض نور مستقیم آفتاب و تنظیم سیستم آبرسانی بدن است.

وقتی هوا بیش از حد گرم می شود؛ به طور منظم آب بنوشید و منتظر احساس تشنگی نمانید. نوشیدن آب حاوی کمی نمک و لیمو یا مصرف میوه‌ها و سبزیجات آب‌دار به حفظ املاح بدن کمک می‌کند. از لباس‌های روشن، آزاد و نخی استفاده کنید. تنظیم ساعات خروج از خانه را برنامه ریزی نموده تا حد امکان بین ساعات ۱۰ صبح تا ۴ بعدازظهر که هوا گرم‌ترین حالت را دارد، از خانه خارج نشوید، به استثنای کار های ضروری و نیاز امور زندگی روزمره. خنک نگه داشتن محیط داخلی را اولویت دهید؛ در طول روز پرده‌ها را کش نمایید تا از تابش مستقیم آفتاب جلوگیری شود. شب‌ها که هوا سرد تر است، پنجره‌ها را باز بگذارید تا جریان هوا برقرار شود. استفاده از چتری و پوشاندن سر برای جلوگیری از گرما زدگی می تواند خیلی موثر تمام شود. استفاده از میوه‌های مثل تربوز و خربوزه و سبزیجات تازه؛ بهترین انتخاب برای روزهای گرم تابستان استند. در نهایت استفاده از غذای پر چرب و سنگین را کنار بگذارید.

در مورد جلوگیری از گرما زدگی و در امان ماندن از هوای گرم و سوزان فصل تابستان، مردم و کارشناسان دیدگاه های خاص خود را دارند.

وحید رحیمی، کارشناس امور هوای گرم می گوید: بهترین اقدام برای محفوظ ماندن از موج گرما، نوشیدن آب است. رحیمی گفت: مردمی که در مناطق دارای گرمای شدید زندگی دارند، به صورت منظم باید آب بنوشند؛ حتی اگر تشنه هم نباشند. نوشیدنی‌های سرد مانند آب و جوس لیمو نسبت به نوشیدنی‌های گرم بهتر اند. منتظر نباشید تا تشنه شوید، و« بعداً آب بنوشید »؛ و تشنگی در تابستان نشانه کم‌آبی بدن است.

استاد نجیب الله متین می گوید: در خانه بمانید. این شیوه دیگری است که می‌توانید از گرما در امان باشید. اگر نیازی نباشد، در گرم‌ترین ساعات روز استراحت کنید. عده ای از مردم اغلباً تلاش می‌کنند با بیرون نرفتن خود را سرد نگهدارند، اما در خانه ماندن برای همه ممکن نیست. متین می افزاید گرما بیشترین ضرر را به کسبه کاران و دستفروشان وارد می‌کند که در فضای باز و شدت گرما به خاطر امرار حیات ، دست و پا می زنند.

به گفته او در کشوری مانند افغاستان که بیشترین مردم آن فقیر هستند و به ویژه افرادی که در بخش‌هایی مانند ساختمان سازی مصروف اند، بیشترین ضرر ناشی از موج گرما را تحمل می‌کنند، زیرا آنان مجبوراند بخاطر امرار حیات کار کنند. آن‌ها باید پول بدست آورند تا امور زندگی را پیش برده و نفقه خانواده را مهیا کنند.

در برخی از ولایات کشور چون ننگرهار، کندهار، لغمان ، بلخ و ... در جریان موج گرمای شدید که دمای هوا به بیش از ۴۰ درجه سانتی‌گراد می رسد؛ کارگرانی که روزانه در بخش های زراعت، خانه سازی و ... در فضای باز فعالیت دارند؛ اگر بر سر کار حاضر نه شوند، پولی برای امرار حیات دریافت نمی کنند. مجبور اند همه روزه به کار حاضر باشند و در برخی موارد، از روی مجبوریت و نیاز لباس خود را در آب تر می نمایند، تا گرما اندکی قابل تحمل شود.

کارشناسان صحی توصیه می نمایند: در صورتی که امکانات برق و وسایل برقی مساعد است، در اتاق و دفاتر پکه دار و کولردار بنشینید و امور کاری و خانوادگی خود را پیش ببرید.

اما با شرایط بد اقتصادی برای عده ای از مردم، استفاده از مزایای برق و وسایل برقی را دشوار نموده و سرد کردن هوا در برخی ازخانه ها و مناطق ممکن نیست. اکثریت مردم توانایی خرید دستگاه‌های سردکننده را ندارند و امکانات برق در فصل گرما، هم محدود می شود.

دیدگاه محمد نعیم تنها یکی از باشندگان خیرخانه چنین است: شما می‌توانید کلکین‌ها را بپوشانید تا از تابش آفتاب به داخل اتاق‌ها جلوگیری کنید و برای جریان هوا از پکه‌ها استفاده کنید. گذاشتن‌تکه‌ها یا لباس‌های سرد بالای مچ دست و سر و گردن نیز می‌تواند به جلوگیری از گرما کمک کنند.

شدت گرما در کشور، رو به افزایش است. این گرما نتیجه شتابان تغییرات اقلیمی می باشد که زمین را در سالیان گذشته به‌شدت تحت تاثیر قرار داده و روند گرم‌تر شدن سال به سال را تسریع کرده است.

واقعیت این است که هر سال نسبت به سال پیش، دمای هوا افزایش می‌یابد و ما ناگزیریم این حقیقت را بپذیریم و خود را برای آن آماده کنیم. این گرما نه تنها موجب کم‌آبی و فشار بر منابع آب و برق می‌شود، بلکه سلامت جسمی و روانی شهروندان را نیز تهدید کرده و زندگی شهری را مختل می‌سازد. با این حال، می‌توان با به‌کارگیری راهکارهای ساده و عملی، تابستان را قابل‌تحمل‌تر و حتا دلپذیرتر ساخت.

گرمای تابستان، چالش جدی اما قابل مدیریت است. با همکاری، آگاهی دهی رسانه یی و اقدامات عملی می‌توان آن را به فرصتی برای ساختن محیط سالم‌تر و زندگی بهتر تبدیل کرد.

د ځينو ځوانانو د اصلاح، بيدارۍ او فكري توازن اړتيا

محمدنصير ابوحذيفه

ځينې ځوانان د خپل ذهني جوړښت او مادي فكر په محدود چوكاټ كې دومره راګير ښكاري چې د ژوند له ټولو ارزښتمنه پانګه، يعنې وخت، انرژي او استعدادونه يې په بې‌ګټې بوختياوو كې مصرفېږي. كه همدا هڅه، زحمت او انرژي يې د زده‌كړې، مسلكي مهارتونو، هدفمند كسب، ځان جوړونې او فكري ودې لپاره كارولې واى، ښايي نن يې د بريا، پرمختګ او ځان بسياينې ډېرې ښې ليدلې واى. انسان هغه وخت بدلېږي چې خپل ارزښت درک كړي، وخت ته اهميت وركړي او د لنډمهالو خوندونو پر ځاى د اوږدمهالو برياوو لپاره كار وكړي.

تعريف:

دا هغه كسان دي چې:

١ـ اوږدمهاله فكر نه لري او د راتلونكي لپاره روښانه پلان نه جوړوي؛

٢ـ د ورځې ډېره برخه په مزو، چړچو او بې‌ګټې ساعتتېرۍ كې تېروي؛

٣ـ تل د ساعتتېرۍ، تفريح او ظاهري خوښيو اړتيا احساسوي؛

۴ـ د نفساني او شهواني غوښتنو په كنټرول كې ستونزې لري او د ځان مهارول ورته سخت وي؛

۵ـ د اخلاقي توازن، شخصيت جوړونې او مثبتو ارزښتونو ساتلو ته كمه پاملرنه كوي؛

۶ـ په علمي، فكري او فرهنګي مجلسونو كې لږ ګډون كوي او يا ترې ځان لرې ساتي؛

٧ـ اكثره د مادي اړتياوو، ظاهري سياليو او د خلكو د نظر تر اغېزو لاندې ژوند كوي؛

٨ـ ټولنيز اصول، آداب، نظم او د ګډ ژوند قواعد په بشپړه توګه نه مراعاتوي؛

٩ـ سلام، احترام، ادب، حيا او نورو ساده خو ارزښتمنو ټولنيزو اخلاقو ته كله ناكله لازم اهميت نه وركوي؛

١٠ـ خپل عايدات او امكانات په بې‌ځايه مصرف، ناوړه ملګرو او غير ضروري شيانو لګوي؛

١١ـ د نورو خلكو د ژوند له ظاهري بڼې سره د ځان پرتله كولو له امله تل د كمزورۍ احساس كوي؛

١٢ـ د خندا، بې‌پروا چلند او ظاهري ازادۍ تر شا د خپل شخصيت د ثابتولو هڅه كوي؛

١٣ـ د لباس، ظاهري بڼې او فيشن په انتخاب كې كله افراط او كله بې‌توازني كوي؛

١۴ـ د كتاب، مطالعې او علمي پرمختګ پر ځاى له ټولنيزو شبكو او لنډمهالو مصروفيتونو سره ډېره علاقه لري؛

١۵ـ د برياليو خلكو د ژوند پايلې ويني، خو د هغوى د هڅو، قربانيو او زحمتونو ارزښت نه درک كوي؛

١۶ـ د ستونزو د حل پر ځاى د شكايت، ګيلو او پلمو لاره غوره كوي؛

١٧ـ د وخت ارزښت نه پېژني او ډېر فرصتونه له لاسه وركوي؛

١٨ـ د خپلو استعدادونو د كشف او ودې لپاره منظم كار نه كوي؛

١٩ـ د ښه ملګري او بد ملګري ترمنځ د توپير په درک كې تېروتنې كوي؛

٢٠ـ د لنډمهالي خوند لپاره اوږدمهالي ګټې قرباني كوي.

خو بايد دا هم هېر نه كړو چې دا ځوانان د ټولنې د بدن يوه مهمه برخه ده. دوى د سپكاوي، رټلو او تحقير وړ نه دي، بلكې د لارښوونې، پوهاوي، روزنې او مثبت ملاتړ اړتيا لري. هر ځوان چې نن بې‌هدفه ښكاري، كېداى شي د مناسبې مشورې، سالم چاپېريال، ښې ملګرتيا او قوي ارادې په موندلو سره د سبا يو بريالى، ګټور او اغېزمن شخصيت شي.

موږ بايد د نيوكې پر ځاى د اصلاح فكر وكړو، د ملامتولو پر ځاى د حل لارې وړاندې كړو او د نااميدۍ پر ځاى د اميد څراغونه روښانه وساتو، ځكه ډېر داسې كسان شته چې يو وخت يې ژوند بې‌نظمه او بې‌هدفه و، خو وروسته يې د فكر، علم او هڅې په بركت خپل ژوند بدل كړ او د ټولنې د وياړ سبب شول.

راځئ چې دا ډول ځوانان د ټوكو، سپكاوي او بې‌باورۍ هدف ونه ګرځوو، بلكې د فكري توازن، علمي ودې، اخلاقي اصلاح او مثبت بدلون هدف يې وګرځوو. كه د دوى انرژي سم لوري ته رهبري شي، نو هم به د دوى ژوند بدل شي، هم به كورنۍ ورڅخه ګټه واخلي او هم به ټولنه د يوه سالم، فعال او مسئول نسل خاونده شي. د هر ځوان په وجود كې د بريا يوه پټه وړتيا شته اړتيا يوازې د دې ده چې هغه وړتيا وپېژندل شي، وده وركړل شي او د پرمختګ په لاره كې ترې ګټه واخيستل شي.

په اسلام کې د بندیانو حقونه

عبدالعزیز عزام

اسلام درحمت،عدالت او انسانیت دین دی .اسلام نه یواځې دمسلمانانو ،بلکې دټولو انسانانو حقونه خوندي کړي دي او درناوی ورته لري ،دجګړې اوشخړې پر مهال هم اسلام دانسانانو دکرامت خیال ساتلی دی او دبندیانو لپاره یې ځانګړي حقوق ټاکلي دي. له اسلام نه مخکې به بندي سره ډېر ظلم او ناوړه چلند کیده خو اسلام په راتګ سره دبندي حقوق واضح بیان کړل، هغه سره یې دښه تعامل او چلند حکم وکړاو دبندي دازادولو لاره یې معلومه او واضحه کړه قرانکریم او احادیثو کې له بندي سره دښه چلند ،نرمی،عدالت او احسان کولو حکم شوی دی ،داسلام له نظره بندي هم انسان دی او باید دهغه ټول انساني حقوق ادا کړای شي ،چې څومره ممکنه وي اسلام انسانانو ته ازادي ورکړې ده. له همدې وجې داسلام په راتګ سره دغلامانو او وینځو دود او رواج هم له منځه لاړ ځکه په دې سره دانسان کرامت اوعزت تر پښنو لاندې کیږي او ډېر حقوق یې ضایع کیږي

دبندي مفهوم: بندي هغه کس دی چې دجګړې، جرم یا بل سبب له امله دیو دولت ،ډلې یا فرد تر ولکې لاندې راشي په اسلامي اصطلاح کې بندیان اسیران بلل کیږي

١ــــ په قرانکریم کې دبندي حقونه:

په قرانکریم کې ددوی په اړه ډېر واضح او څرګند احکام دي.

الله ﷻ فرمایي:ژباړه:اودوی دالله ﷻ دمحبت له وجې مسکین ،یتیم او بندي ته خواړه ورکوي .(سورت انسان :٨)

په دې ایات کې دې خبرې ته اشاره ده چې بندي سره به دمیلمه په شان تعامل او چلند کیږي نه داچې ظلم ورسره وشي او ناوړه بندیزونه وربانديې ولګول شي چې بیا هغه ته دخوراک ، څښاک او جامو حقوق هم نه ورکول کیږي .

همدغه شان الله ﷻ فرمایي :ژباړه: «وروسته یا په احسان خوشې کول دي یا په فدیې سره.» (سورت محمد :٤)

لکه څنګه مو چې مخکې وویل: اسلام انسان ته دازادۍ ژوند ورکړی دی. په همدې ایات شریف کې صراحتاً او واضحه داخبره ذکرده چې له بندي سره یاداسې تعامل وکړای شي چې بغیر دڅه بدلې اوسزا خوشې کړای شي اویا هم ورسره په څه طریقه جوړ جاړی وشي او خوشې کړای شي ددې خبرې ژوندی مثال اونمونه دبدر دغزا بندیان دي چې صحابه کرامو نیولي وو او بیا ورسره داسې تړون وشو چې کوم بندي تعلیم لري هغه به دمسلمانانو لسو ماشومانو ته زده کړه او تعلیم ورکوي. اوپه دې ایات کې بلې دې خبرې ته اشاره ده چې اسلام دبندي له وژلو نه دهغه خوشې کول ښه ګڼي.

٢ــــ په سنتو او احادیثوکې دبندي حقونه:

١-دخوراک اوڅښاک حق:

رسول الله ﷺ به له بندیانو سره ډېر نرم چلند کاوه ،او دبدر دغزا له بندیانو سره صحابه کرامو داسې چلندکاوه چې خپله به وږي وو او هغوی ته به یې ښه ډوډۍ ورکوله.

یوصحابي وایي: موږ به بندیانو ته ډوډۍ او ښه خواړه ورکول او خپله به مو کجورې خوړلې. دااسلامي او نبوي اخلاقو ژوندی مثال دی،بندي باید له لوږې او تندې ونه ځورول شي. هغه ته باید مناسب او پاک خواړه او اوبه ورکړل شي.

نبي ﷺ وایي:ژباړه:ستاسو ترلاس لاندې خلک ستاسو ورونه دي .

که څه هم داحدیث دغلامانو په اړه دی خو فقهاءو ورنه دبندیانو دښې ساتنې اصل هم اخیستی دی. له دې حدیث شریف څخه داخبره معلومه شوه چې ته هم انسان یې او ستا ترلاس لاندې خلک هم انسانان دي. په چا به ظلم نه کوې اړمندو خلکو سره باید انساني تعامل وشي.

٢-دښه چلند او انساني تعامل حق : رسول الله ﷺ به له بندیانو سره په ډېره نرمه لهجه خبرې کولې په هغوی به یې بې ځایه غوسې او تیز رفتار نه کاوه اود جوړجاړې په وخت کې به یې ورسره له اعتدال،نرمی اوصداقت نه کار اخیسته ،څومره به چې ورته ممکنه وه اوداسلام مصلحت به پکې و، له ډېرو شیانو نه به ورته تیریده.

٣-دشکنجه کولو، وهلواو ظلم کولو منع: اسلام دظلم،ناروا او زیاتي قانون نه دی، بلکې داخوښوي چې ټول انسانان باید دژوند په چارو کې سره برابر وي. بندي که بندي هم دی خودده وهل او ورته ضرر رسول اسلام حرام ګرځولي دي بیا هم انسان دی او دعامو انسانانو په شان چلند به ورسره کیږي.

٤-دجامو اوسرپناه حق: بندي ته باید په هروخت کې دموسم او حالاتو مطابق جامې او د وخت تیرولو ځای برابر کړای شي او ورته داسې ځای برابر کړای شي چې دژوند اساسي اړتیاوې پکې پوره کړي .

٥-له کورنی سره د اړیکې حق : اسلام دانساني عاطفې احترام کوي چې څومره ممکنه وي بندي باید دخپلې کورنی او کورنی یې دده له حاله خبره وي. ددوی ترمنځ به په پوره ډول اړیکې او رابطه نه قطع کیږي.

٦-دتعلیم،زده کړې او اصلاح حق: داسلام سپیڅلی دین یواځې سزا نه غواړي، بلکې اصلاح اوتربیت ته ترجیح اوغوره والی ورکوي. بندي باید له زده کړو او روزنې برخمن وي او دهغه لپاره به دزده کړو زمینه برابریږي .

٣ــــ دخلفاءو او صحابه ؓ وو چلند له بندیانو سره :

حضرت ابوبکر صدیق به خپلو لښکرو ته ویل چې :

-ماشومان مه وژنئ

-ښځې مه وژنئ

-سپین ږیري او بې چاره ګان مه وژنئ

-بندي مه شکنجه کوئ، په هغه ظلم مه کوئ اونرم تعامل ورسره کوئ.

همدغه شان حضرت عمرفاروق به له بندیانو سره لیدنه کوله ،دهغوی دحالاتو پوښتنه به یې کوله اودژوند ډیرې اسانتیاوې به یې ورته برابرولې.

دغه اوس وخت کې چې نړی دانساني حقونو خبرې کوي اودبندیانو دحقونو نارې وهي، دا اسلام ډېر پخوا واضح کړي دي او دانساني کرامت،عزت اوتعامل ساتنه یې کړې ده.

دبدنیانو دحقوقو داداء کولواوله هغوی سره دښه چلند حکمت:

اسلام چې بندي خپل ورور ګڼي او له هغه سره نرمي کوږي داځکه چې :

١.دانسان کرامت وساتل شي .

٢.دظلم مخه ونیول شي .

٣.دانتقام پر ځای اصلاح خپره شي .

٤.ددښمن زړونه اسلام ته مایل شي .

٥.په نړی کې داعتدال او نرمی قانون پلي شي .

پر امام حسين «رض» باندې چا وير پيل کړ؟

محمدعلي غزال

ډېرې کرېږې وربې ډلې شـــته ، چې ځانونه اســـلام ته منسوبوي ؛ خو ډېر زيات ناروا موارد يې په دين کې داخل کړي او د هغو په تر سره کولو خورا ترکيز کوي.

سيدنا عمر فاروق [رض] د ۲۳ هجري کال د ذوالحجې په ۲۶ مه د مغيره بن شعبه [رض] د غلام ابو لؤلؤ مجوسي له خوا د سهار په لمانځه کې په توره ووهل شو، چې سخت ټپونه يې وخوړل او څو ورځې وروسته يې د شهادت جام وڅښه او هغه هيله يې پوره شوه، چې ويل به يې: [يا الله! د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مدينه کې مې شهيد کړې!]

خليفه شهيد شو او د نبي کريم عليه السلام په روضه کې خاورو ته وسپارل شو، نه چا ماتم پرې وکړ او نه يې د شهادت په ورځ ماتمي غونډې جوړې کړې، بلکې ډېرو مسلمانانو ته يې د شهادت نېټه هم نه وي معلومه.

د خليفه له شهادت وروسته، د ده له ځيرکتيا او فراست سره سمه شورى جوړه شـــوه او د مسلمانانو لپاره درېيم راشد خليفه عثمان [رض] تعين او ټول مســـلمانان پرې راټول شول او ۱۲ کاله د مسلمانانو چارې په ډېر سم نظم او ضبط سره رواني وې، سوبو او فتوحاتو هم د روم او فارس له قلمرونو څخه قدمونه ور واړول، د هند، چين، هسپانيې، فرانسې او … پر پولو د محمدي مدرسې علماء، پوهان، قوماندانان او پوځيان وسله په لاس د خپلو مشرانو امر ته منتظر ناست وو.

د مصر له لوري د عبدالله بن سباء يهودي په قومانده څو کسان راغلل، د درېيم راشـــد خليفه کور يې محاصره کړ، لويو اصحابانو، لکه علي، زبير او طلحه [رض] د هغه د کور د پيرې لپاره خپل زامن ور ولېږل، څو مظلوم خليفه وژغوري، خو متأسفانه باغيانو د هغه د کور دېوال د شا له خوا سورى کړ او د قرآنکريم د تلاوت پر مهال يې مظلوم خليفه په ۳۵هـ کال د ذوالحجې په ۱۸ مه د جمعې په ورځ شهيد کړ، چې د شهادت خبر يې يوې مېرمنې د مسلمانانو تر غوږونو ورساوه.

مظلوم خليفه د رســـول الله صلى الله عليه وسلم د دوو لوڼو خاوند و، چې يوه وفات شـــوه، بيا يې بله ور په نکاح کړه او رســـول الثقلين[ص] ورته وويل: [که درېيمه لور مې درلوداى، هغه مې هم در په نکاح کوله].

د رســـول الله صلى الله عليه وسلم زوم او د مسلمانانو درېيم خليفه په مظلومانه ډول شهيد شو؛ خو هېڅچا هم مستمر وير او ماتم ورپسې و نه کړ، خو د مظلوم خليفه له شهادته پس د جګړو په پايله کې (۳۵۰۰۰) مسلمانان له منځه لاړل!!!

خلافت په دوو برخو ووېشـــل شو، لوى شمېر اصحاب کرام [رض] له علي [رض] سره ولاړ وو او بل ټولي د حضرت امير معاويه [رض] لورى نيولى و، پر دې مهال دوې سترې جګړې وشوې او (۳۵۰۰۰) مسلمانان په کې ووژل شول، چې په هغو کې لوى لوى اصحاب کرام [رض] هم شامل وو. له نېکه مرغه د خارجي دښمنانو پر وړاندې علي او امير معاويه [رضي الله تعالى عنهما] متفق او متحد وو. معاويه [رض] به روميانو ته په زغرده ويل: [ستاسو د مقابلې لپاره به د علي «رض» تر قيادت لاندې د يو سپاهي او عسکر په حيث درځم!!]

مغرض بهرني دښـــمنان، کـــه د فارس مجوس وو او کـــه د روم يهود او نصارى وو، تل يې د اســـلامي خلافت د ورکېدو او له منځه تللو هڅه کوله، نو د هغـــوى د دې مذبوحانه هڅو په پايله کې د عبدالرحمن ابن ملجم خارجي په توره باندې د مسلمانانو څلورم خليفه، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم هم زوم او هم يې د تره زوى و [حضرت علي رضـــي الله عنه] د هجرت په ۴۰ تم کال د رمضان په ۱۷ مه د جمعې په ورځ د سهار د لمانځه پر مهال په توره وواهه او ټپي يې کړ، چې وروسته له هغو زخمونو په شهادت ورسېده؛ خو هېچا هم همېشنى وېر او ماتم پرې و نه کړ، ډېر مسلمانان خو د ده د شهادت نېټه هم نه پېژني، آن تر دې چې لوستي کسان هم ترې ناخبره دي!!!

له څلورم راشـــد خليفه وروســـته د ده مشـــر زوى امام حسن «رض» د مســـلمانانو خليفه و او بيا يې خلافت حضـــرت معاويه «رض» ته ورپرېښـــود او دا مهال د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم دوې وېناوې رښتيا شوې: « زما په اُمت کې به دېرش کاله خلافت وي، بيا به پاچاهي وي». (مسنداحمد).

او بله دا چې «زما دا زوى مشر دى، زما د دې زوى په واسطه به الله جل جلاله د دوو مسلمانو ډلو ترمنځ سوله راولي». (بخاري)

د رسول الله صلى الله عليه وســـلم دواړه وېناوې رښتيا شوې، څلورو راشدو خليفه ګانو څه کم دېرش کاله د خلافت چارې سمبالې کړې او هغه پاتې موده يې امام حسن بن علي [رضى الله عنهما] ورپوره کړه کله چې هغه موده په بشپړېدو شوه، نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه بله وېنا صادقه شوه؛ ځکه چې امام حسن په ۴۱ هـ له معاويه [رض] سره په ځينو شرطونو سوله وکړه. د مسلمانانو ترمنځ د وروروڼې مراندې بېرته ټينګې شوې، معاويه [رض] د ټول اُمت خليفه شو.

هو! د حســـن [رض] په اړه د رسول الله وېناوې سل په سلو کې رښتونې شوې، خو د مسلمانانو د زړه سر او د سترګو تور د دين د دښمنانو له لوري د زهرو په واسطه په شهادت ورسېده . معاويه [رض] د مسلمانانو خليفه شو، فتوحات لا ګړندي شول، هر لور ته مسلمانانو د اسلام پېغام رساوه او د مسلمانانو قلمرو پراخېده، نو معاويه [رض] ته چا مشوره ورکړه، چې له ځانه وروسته خپل زوى يزيد وليعهد وټاکه، ده هم هماغسې وکړل، کله چې معاويه [رض] وفات او يزيد واکمن شو، نو هغه د ځان لپاره بيعت اخيستل پيل کړل، چې ډېرو لويو اصحابانو [رض] له بيعته انکار وکړ او له مدينې منورې څخه يې مکې ته مخه کړه، د علي [رض] زوى د رسول الله صلى الله عليه وسلم لمسي د جنت د ځوانانو مشر امام حسين [رض] هم له هغه سره له بيعت کولو انکار وکړ. په دې وخت کې د کوفې خلکو حضرت امام حسين [رض] ته په سلګونو ليکونه ورولېږل، چې ته کوفې ته راشه، ته زموږ امام او خليفه يې، نو ده هم هوډ وکړ، چې د هغوى بلنه ومني، ډېرو اصحابو کرامو [رض] کوښښ وکړ، چې هغه له خپل هوډه واړوي، خو امام عزم کړى و، د هېچا يې و نه منله او مخ په کوفه له خپلو ملګرو سره روان شو، کله چې د کوفې حدودو ته ورسېدل، د ليکونو له استوونکو سره يې رابطه وکړه، هغوى ټولو له امام سره له مرستې او بيعته انکار وکړ، چې موږ ته نه يې راغوښتى!!

امام او د هغه ملګري يې د يزيد د لښکريانو په وړاندې يوازې پرېښودل، څو ځله د دواړو خواوو ترمنځ خبرې اترې هم وشوې، خو يزيدي لښکرو هر څه رد کړل، يوازې يا له يزيد ســـره د کربلا په ميدان کې بيعت او يا جګړه!!!

هو! د امام حسين [رض] ټول وړانديزونه د يزيد د عراق د والي عبيدالله بن زياد له خوا رد شول، نو دى هم اړ شو چې د ظلم او زور زياتي خلاف توره وځلوي يا هغه ظلم او زور له منځه يوسي او يا د شهادت جام وڅښي. هماغه وو چې د ده خپلوان ميدان ته ورغلل او د ظالمانو له خوا د نبوي شمعې پتنګان يو په بل پسې د شهادت مقام ته ورسېدل، نو په پاى کې د علي مرتضى زوى د محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم لمسى د جنګ ډګر ته ورغى او له اوږدې جګړې او سخت مقاومت وروسته زرعه بن شريک په توره او سنان بن انس نجفي په نېزه وواهه، د ۶۱ هجري کال د محرم الحرام په لســـمه، د جمعې په ورځ د کربلا په دښته کې خپلې همېشنۍ هيلې [شهادت] ته ورسېده. د جنت سردار په خپل بدن ډېر ټپونه خوړلي وو، ظالمانو په هغه بسنه و نه کړه او سر مبارک يې ترې پرې کړ. د عبيدالله بن زياد لښکريانو د ده مبارک سر د کوفې په بازار کې وګرځاوه، کوفه والو ژړل!!! نو امام زين العابدين رحمه الله وويل: « همدا خلک زموږ قاتلين هم دي او پر موږ باندې ژاړي هم!!!»

ابن زياد د اهل بيتو کاروان او د شـــهيدانو سرونه يزيد ته واستول، د يزيد مېرمنې ترې وپوښتل: اميرالمؤمنينه! د رسول الله صلى الله عليه وسلم د زړه ټوټه او دا د فاطمې [رض] د زوى حضرت حسين [رض] سر دى!؟ يزيد وويل: هو! ځه لاړه شه، پر هغه ماتم وکړه. الله جل جلاله دې ابن زيـــاد مر کړي، هغه په دې کار کې خورا بېړه وکړه. د يزيد له کوره وير او ماتم پيل شو او تر درېيو ورځو جاري و. له دې وروسته تر درېيو سوو کلونو پورې په محرم کې د ماتم او نورو غمجنو کړنو هېڅ درک نه و، خو له دې وروسته د معزالدوله ديلمي په دوره کې د محرم په لسمه په بغداد کې پر امام حسين [رض] باندې د ماتم او وير حکم جاري کړاى شو او له هغه پس المعزالدين فاطمي په ټول مصر کې فرمان جاري کړ، چې پر امام حسين [رض] باندې وير او ماتم وکړي.

کله چې ګوډ تېمور هندوستان ونيو، نو هلته يې د ماتم او وير رسم دود کړ او له دې مخکې په هندوســـتان کې دا ناوړه رسم رواج نه و. (تاريخ ملت/ج/ص: ۵۱۲)

د ماتم رسم د اهل الســـنت والجماعت په اند حرام دى، له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ګڼ شمېر احاديث رانقل شوي، چې په هغه کې يې ممانعت راغلى. د اهل تشـــيع علماؤ په نزد هم د ماتم د رسم په اړه محتاطانه رويه غوره شوې ده، په لبنان کې مېشت سيد محمد حسين فضل الله له تاوتريخوالي ډک ماتم څخه منع کړې ده او همداشان د نورو شيعه پوهانو، لکه خامنه يي او مکارم شېرازي په نزد هم د ماتم پر مهال کميس وېستل جائز نه دي، په ځانګړي ډول په عامو ځايونو او د ښځو په وړاندې.

د ماتم رسم د حضرت امام حســـين [رض] دښمنانو پيل کړى او هغه خلک يې ژوندي ســـاتي، چې هغوى د امام حسين[رض] او د هغه له نيکه حضرت محمد مصطفى [ص] څخه يې مخونه اړولي دي.

د کربلا پر مظلومو شهيدانو دې تل اللهي رحمتونه وي!

حضرت حسین «رض» الگوی حریت و آزادی اسلامی بود

محمد مجاهد

نواسه گرامی پیامبر اکرم اسلام، حضرت حسین(رض)که نماد حریت و آزادی اســـت، او اهل، آل و پرورده دست مربی حکیمی چون پیامبر (ص) و مادر شایســـته ای چون فاطمه(رض) و پدر توانایی چون علی (ک) است. او صحابی بزرگواری است، که هم شرافت صحبت و هم افتخار قرابت با نبی ختم مرتبت و هم شـــهادت مظلومانه را در کارنامه خود ثبت نموده است. در امتداد تاریخ روزهای گرانقدری وجود دارد، که انسان نسبت به این روزها احساس غرور و سربلندی می کند. همینطور در تاریخ اسلام روزهایی وجود دارد، که نام آن روزها با حروف نورانی بر لوح‌های طلائی تاریخ حک شـــده است. بدون شک، که روز عاشورا یکی از آن روزهاســـت. نهضت حضرت حسین(رض) بیدار ساختن ملت‌های خوابیده مســـلمان و نیز مبارزه مؤثر و شهادت فداکارانه‌اش، تفسیر کننده رازهای پنهان و با حکمتی بود، که هر مسلمان باید از این رازها برای بیداری نسل های بعدی استفاده بهینه نماید.

در نخســـت شعر را از علامه اقبال لاهوری که در مورد نهضت عاشورا پرداخته، در اینجا ذکر می‌کنیم؛ و ســـپس با اســـتناد بـــه تاریخ و اقوال بزرگواران امت اسلامی موضوع نهضت عاشورا را بازگو خواهیم نمود.

هر که پیمان با هو الموجود بست
گردنش از بند هر معبود رست
تیغ بهر عزت دین است و بس
مقصد او حفظ آئین است و بس
خون او تفسیر این اسرار کرد
ملت خوابیده را بیدار کرد
تیغ را چون از میان، او برکشید
از رگ ارباب باطل، خون کشید
نقش (إلاّ اللّه) بر صحرا نوشت
سطر عنوان نجات ما نوشت
رمز قرآن از حسین آموختیم
زآتش او شعله ها اندوختیم

بدون شک، که علامه اقبال فلسفه عاشورا را در حریت بخشی می داند. از نظر علامه اقبال، قیام حضرت حســـین (رض) و یارانش برای حفظ آزادگی و گریز از طاغوت و اثبات بندگی نســـبت بـــه خدا و برخوردار ســـاختن دیگران از آزادی در سایه تعبد الهی بود. پیامبر خدا، حضرت حسین (رض) را گرامی می‌داشت و به آن محبت زایدالوصفی می کرد. از جهت دیگر حضرت حسین (رض) از اصحاب پیامبر (ص) به شمار می‌رود و با آن حضرت تا دم مرگ آن بزرگوار محشـــور و مصاحب بوده و حضرت رسول نیز از او رضایت کامل داشته، اگر چه حسین (رض) در سنین کودکی بود. حسین (رض) در میان تمام مردم از ارج و عظمت بالایی برخوردار بوده. همه‌ی ما باور داریم، که بدون تردید حسین (رض) مظلومانه به شـــهادت رسید. قتل وی و همکاری در آن و رضایت به آن مصیبتی اســـت بزرگ، که تحمل آن الی اکنون بر همه‌ی ما مسلمانان سخت و دشوار اســـت. اما برای حسین (رض) شهادت و علو درجه و جایگاه بلندی است، تقدیر خداوند متعال به سعادت رقم خورده است، سعادتی که جز با نوعی آزمایش بدست نمی آید. سوابقی داشتند که دیگر اهل بیت نداشتند، آنان با عزت و امنیت در دامان اسلام پرورش یافتند و به شـــهادت رسیدند تا به مراتب سعداء و عیش شهدا برسند. وقتی از حضرت حسین (رض) یاد می‌شود، بدون شک نمی‌توان واقعه‌ی کربلا را نادیده گرفت. اما اگر حضرت حسین را تنها در واقعه‌ی کربلا خلاصه کنیم، در حق ایشان، تاریخ، قدر و منزلت شان ستم روا داشته ایم.

صبر، استقامت و پایداری که حضرت حسین (رض) در حادثه‌ی کربلا از خود به نمایش گذاشت، دلیل روشن و قاطع بر ایمان کامل، آگاهانه و عمیق ایشان به خداوند، قضا و قدر الهی بود. به باور نگارنده : خداوند بزرگ حضرت حسین (رض) را با شهادت اکرام نمود و قاتلان و کسانی که به کشـــتن وی راضی بودند را خوار و ذلیل گردانید. بدون تردید قتل حسین (رض) گناه نابخشودنی است و کسی که به آن اقدام نموده و یا به آن راضی بوده و همکاری نموده مستحق عذاب الهی است. تمام سلف صالح قتل حسین (رض) را شنیع می‌دانستند؛ ابراهیم نخعی می گوید: (اگر من از قاتلان حسین (رض) بودم و به بهشت هم می‌رفتم، خجالت می‌کشیدم که به چهره‌ی رسول الله (ص) نگاه کنم). حسین (رض)به محض اینکه منصب زمامداری و حکومت از مسیر اصلی خود انحراف پیدا کرد و نااهلانی زمام امور را به دســـت گرفتند، حضرت تا پای جان خود و عزیزانش ایستادگی فرمود و با نثار خون پاکش روسیاهی باطل و سربلندی حق را بر صفحات تاریخ عالم تا قیام قیامت ثبت نمود.

بدون تردید، که حســـین (رض) در دیدگاه خلفای راشـــدین و همه‌ی صحابه کرام دارای اهمیت و عظمت بی پایانی بود و همه به او با دیده‌ای احترام و به حیث یک صحابی جلیل القدر و فرزند دخت رســـول اکرم (ص) و بحیث یک عالم، عابد، مجاهد، بهادر و فیّاض نگاه می کردند؛ ووی را محبوب و از اعماق قلب عزیز می شمردند. شیخ محمد عبده که یکی از علمای بزرگ جهان اسلام است، می نویسد: (هنگامی که در دنیا حکومت عادل وجود دارد و هدفش اقامه شریعت و حدود الهی است و در برابر آن حکومتی ستمگر قرار می گیرد، که بخواهد حکومت عدل را تعطیل کند، بالای هر مسلمان یاری و مساعدت حکومت عدل واجب است). حضرت حســـین(رض) در تمام مدت نهضت خود، طرفدار صلح بود نه جنگ و هیچ گاه نمی خواســـت به تدابیر فریبنده که امکان پیروزی او را بر دولت اموی صد چندان می کرد، متوسل شود.

حضرت حسین (رضی الله عنه) با شهادت قهرمانانه خویش راه جدید به عدالت‌جویان تاریخ نشان داد. بدون‌شک، که ایثار و شهادت طلبی حسین (رض) باید برای همیشه سر مشق مسلمانان باشد و مورد تمجید قرار گیرد. ثمره نهضت حسین (رض) در حقیقت پیروزی بود، حرکتی پرفروغ و در مقیاس بزرگ و وسیع و حریت واقعی؛ هیچ شهیدی در روی زمین مانند حسین (رض) نیست، که احساسات و قلب‌ها را قبضه کند و نسل ها را به غیرت و فداکاری بکشاند. حسین (رض) عقیده و دعوتش را با شهادتش به کرسی نشاند؛ حسین (رض) با خون خود آزادی مسلمانان را امضا کرد و برای همیشه موجب حرکت و تحول مردم در خط طولانی تاریخ گردید. بلی او به ما آموخت که مؤمن حقیقی و دلباخته معبود، باید در راه حق بکوشد و از هیچ چیز جز او نهراسد. ما مسلمانان از آنچه برای نواسه پیامبر (ص) پیش آمده، بسیار غمگین و دردمند شده ایم؛ اما نباید این اندوه جانکاه ســـبب شود، که فرد مسلمان به اوامر و نواهی دینی در مسیری امحای فزیکی ظلم و ستم پابند نباشد، چراکه التزام به دستورات شـــریعت چیزی است که فقها و علمای اسلامی به شدت برای تحقق بخشـــیدن به آن می کوشند و مردم را به التزام و تطبیق عملی آن سفارش مـــی کنند. در پایان چند مورد از احادیث نبـــوی که در آن از بی‌قراری و بی‌تابی نهی شده، باز گو می‌کنیم. امام بخاری در صحیح خود روایت می‌کند و می‌گوید: پیامبر (ص) فرمود: «هر کسی که در هنگام مصیبت بر ســـر و صورت بزند و گریبان پاره کند و سخنان جاهلیت را فریاد زند از ما نیست.» نسائی از یزید بن اوس از ابوموسی اشعری (رض) روایت می‌کند که او بیهوش شد. آنگاه کنیزی از کنیزانش برای او گریه کرد. وقتی به هوش آمد به کنیز گفت: آیا به تو سخن پیامبر (ص) نرسیده است، ما از کنیز پرســـیدیم: (او از پیامبر (ص) چه روایتی به تو نقل کرد؟ گفت: پیامبر (ص) فرموده است: (از ما نیست کسی که صدای نوحه سر دهد و به هنگام مصیبت گریبان چاک کند و موی سرش را به نشانه‌ی مصیبت و غمدیدگی بتراشد). نسائی و آلبانی آن را صحیح شمرده است).

ابن ماجه در ســـنن خود از ابی امامه روایت کرده که رسول خدا (ص) زنی را که چهره اش را با ناخن می‌زند و می‌کَند و زنی که گریبانش را پاره می‌کند و فریاد سر می‌دهد را لعنت کرده است.)

قابل یادآوریست که عاشورا رمز تحول در حیات بشریت و تابلو همه‌ی خوبی های یک انسان است.

در اخیر بســـیار موثر خواهـــد بود که عاجزانـــه از درگاه معبود خویش بخواهیم که رسول معظم اســـلام را در قلوب ما محبوب بگرداند و آل و اصحابش را که ایشـــان را یاری داده اند و قرآن و سنت پیامبرت را به ما رساندند، ما را با آنان محشور بگرداند و برادری و اخوت را در بین امت اسلامی قائم و دائم بدارد.

نوید خوش به غرض رشد و گسترش علم و فرهنگ

استوار

یکی از نهـــاد های علمی کـــه می‌تواند در تقویت داشـــته های علمی وفرهنگی جامعه ما مفید تمام شود کتاب خانه های عامه است که تحت رهبری وزارت اطلاعات وفرهنگ فعالیت می‌نماید.

کتابخانـــه های عامه که در مرکز و ولایات کشـــور بـــه نحوی از انحا در خدمت مردم به ویژه محققین، وپژوهشگران ، محصلین وعامه مردم قرار دارند در بخش های مختلف علوم غنی از کتاب بوده که این گنجینه های پر بار توســـط کارمندان مسلکی این نهاد به بخش ها وشعبات مختلف تقســـیم گردیده است که سهولت برای کارمندان کتابخانه ها و مراجعین را بار آورده اســـت. قبل از اینکه روی بخش ها وشیوه کار کتابخانه های عامه بپردازیم شایان ذکر اســـت نویدی را که از ورای رسانه ها در یافتم با اهل مطالعه شـــریک بسازم کتابخانه های عامه به غرض هرچه بیشتر وبهتر در خدمت مردم قرار گرفتن اوقات کاری خویش را تا ســـاعت ۱۰ شب تعیین نموده اند و پس ازاین علاقه مندان کتاب می‌توانند تا ساعت ۱۰ شـــب از کتاب های این نهاد در فضای آرام استفاده نمایند. واقعاً این یک مژده خوبی است که در رشد و گسترش علم وفرهنگ خدمت بزرگی به شمار می‌آید.

تقســـیم بندی کتاب ها به شیوه ملول دیوی در کتابخانه های عامه تنظیم گردیده که ســـهولت را برای کتابدار و مراجعین بار آورده است. در کنار این شـــعبات کتابخانه ها به اســـاس علوم مرتبط و نیاز ها تقسیم بندی گردیده اســـت علاوه از شـــعبه عمومی تالار مطالعه ،کتابخانه اطفال ، شعبه ریفرنس ، افغانستان شناسی ، شعبه مجلات ، شعبه توزیع ، ادبیات و... در کنار این همه ســـهولت ها کتابداران باتجربه وباپشتکار این نهاد در قسمت حلال مشـــکلات و رهنمایی مراجعین فوق العاده موثر بوده اســـت. بنده که مدتی همکاری در شعبات مختلف کتابخانه های عامه را داشـــتم، خدمات کارمندان این نهاد علمـــی وفرهنگی را قابل نگرش وتمجید میدانم. همچنان توجه مســـئولین وزارت اطلاعات و فرهنگ را که در غنامندی و بهینه سازی کتابخانه های عامه کشور دارند بارع و نکو پنداشته امید است فرهنگ مطالعه در میان مردم ما با سهولت هایی که از سوی مسئولین ایجاد می‌شود بیشتر از پیش گردیده و اندوخته های اهل علم و دانش بیشتر شود.

فکري انقلاب

مسعود راهي الکوزی

ځينې انقلابونه د ټوپک له شپېلۍ او ځينې د قلم له څوکو پيلېږي، خو له ټولو ژور او تلپاتې انقلاب هغه دى، چې د انســـان د ذهن په خاموشه نړۍ کې راټوکېږي.

د فکر انقلاب هغه اور دى، چې نه لوګي لري او نه شـــور، خو د تاريخ د بدلون له ټولو ســـتر ځواک بلل کېږي. دا هغه رڼا ده، چې د جهل په تيارو کې لاره خلاصوي او د انسان د برخليک پر تورو کرښو د اميد نوې کيسې ليکي.

فکر د انسان د وجود روح دى، کله چې فکر مړ شي، ژوند يوازې د عادتونو او تکرارونو په زندان کې بنديوان پاتې شي، خو کله چې فکر راويښ شي، د زمانې پخوانـــي زنګ وهلي زنځيرونه ماتېږي او د نويو اميدونو دروازې پرانيستل کېږي.

همدا فکر ؤ، چې له تيارو يې انسان د ستورو تر نړۍ ورساوه، همدا فکر ؤ، چې د خامو ډبرو له منځه يې تمدنونه وزېږول او همدا فکر دى، چې نن د نړۍ د بدلون کاروان رهبري کوي.

زموږ ستونزه د امکاناتو کموالى نه دى، بلکې د افکارو تنګوالى دى.

هغه ټولنه، چې ذهنونه يې په زړو تصوراتو کې بنديان وي، د پرمختګ له کاروانه وروسته پاتې کېږي.

سيند ځکه تازه وي، چې روان وي؛ که ودرېږي، نو خوسا کېږي. فکر هم همداسې دى، که حرکت ونه کړي، نو د تعصب او ناپوهۍ په ختو کې بند پاتې کېږي.

د فکر انقلاب د دې معنا نه لري، چې انسان له خپلو ارزښتونو څخه لاس واخلي، بلکې دا معنا لري، چې د ژوند هره مســـئله په ژور نظر وګوري، د حقيقت په لټه کې شي او د تقليد پر ځاى د تدبر لاره خپله کړي.

انقـــلاب هغه وخت راځي، چې يو ځوان د شـــکايت پر ځاى د حل فکر وکړي، يو ښوونکى د کتاب له کرښـــو هاخوا د پوهې رڼا خپره کړي او يو ليکوال د قلم په ژبه ويده ذهنونه راويښ کړي.

نن زموږ ټولنـــه د همدې فکري بيدارۍ تږې ده. مـــوږ لا هم د ډېرو هغو ديوالونو سيوري زغمو، چې کلونه مخکې د ناپوهۍ او تعصب په ختو جوړ شـــوي دي، د دې ديوالونو د نړولو لپاره نه زور ته اړتيا شته او نه جګړې ته؛ يوازې يو روښانه فکر، يو ويښ ذهن او يوه رښتينې اراده بسنه کوي، ځکه قلم کله ناکله هغه کار کوي، چې زرګونه تورې او ټوپکونه يې نشي کولاى.

فکر لکه د پســـرلي باران، کله چې د انســـان پر ذهن واورېږي، د هيلو وچ باغونه زرغونوي، له هر څاڅکي يې د نوښت يو ګل راټوکېږي، هغه ملتونه، چې نن د نړۍ پر لوړو څوکيو ناست دي، لومړى يې د خپلو خلکو ذهنونه ازاد کړي دي، هغوى پوهېدلي، چې د ملت اصلي شتمني نه په سرو زرو کې ده او نه د ځمکې په خزانو کې؛ بلکې د انسان په فکر کې پرته ده.

زموږ ځوان نســـل بايد د فکرونو کړکۍ پرانيزي او د پوهې له سيند څخه ځانونه خړوب کړي، ځکه ســـبا د هغو خلکـــو په برخه دى، چې نن فکر کوي، زده کړه کوي او د بدلون خوبونه ويني.

د فکر انقلاب د زمانې غوښتنه ده؛ هغه انقلاب ، چې نه ويني غواړي او نه ويجاړۍ، بلکې ذهنونه روښانه کوي، زړونه نږدې کوي او ملتونه د عزت، پوهې او پرمختګ تر منزله رسوي.

کله چې د فکر لمر راوخېږي، د جهل ټولې تيارې په خپله تښتي او هماغه ورځ د يوه ملت د رښتينې بېدارۍ ورځ وي.

غزل

رحمت الله رحماني

سپین بیرغ دې مبارک شه امارته
تا خوښ کړی دا بیرغ له شریعته
چې مکه مکرمه شوه کله فتحه
صحابه وو سپین بیرغ کړ پرې اوچته
مسلمان چې ورته ګوري، خوشالیږي
له ارمان سره ولاړ وي یو ساعته
له ډېر حسن او هیبت نه داسې ښکاري
ته به وایې، چې راغلی له جنته
په نړۍ کې داسې ښکلی بیرغ نشته
چې وي زیات له دې بیرغ په نورانیته
احترام یې کوي خلک په هر ځای کې
حرکت ورکوي باد هم په عزته
چې وزرونه خوځوي وخت د سیالۍ کې
کړي په ټولو بیرغونو حاکمیته
«رحماني» د دې بیرغ به اطاعت کړې
چې تر څو یې روح باقي وي په صورته

غزل

خالقیار احمدزی

څه سپیڅلي یې اخلاق دي عجیبه شانته انسان دی
څه د وخت نامتو افسر دی، مجاهد دی قهرمان دی
څه خالد د زمانې دی د یرموک ډګر دی ګرم
څه د تورو ماتېدل دي ګرم کړی یې میدان دی
څه د سولې سپین عقاب دی، ستایل شوی دی نړۍ کې
د دې عصر په ښکلاو، نازولی غازي ځوان دی
یاداښتونه یې تازه کړل، د ایوب او غزنویانو
ابدالي به هم پرې خوښ وي، د ناهید هم دا آرمان دی
د تعریف له کچې لوړ دی صفتونه یې هم ډېر دي
دغه ول په ول پګړۍ یې چې په سر ده طالب جان دی
په دې هسې تخیل کې یې صفات غزل غزل شي
ستر اتل د زمانې دی خالقیاره راته ګران دی

چې ایمان دې وي ملګری

راشد کامران

چې ایمان دې وي ملګری غربت نشته
د وفا او خوږې مینې قېمت نشته
مِن و عَن مې حال احوال ورته بیان کړئ
د تشبیه، استعارې ضرورت نشته
ستا د تورو زلفو وږم یې مل نه دی
په هوا کې پخوانی شرارت نشته
هره څانګه د ژوندون ده باد وهلې
له غمونو هېڅ یو زړه سلامت نشته
ځان که خدای ته رسوې نو ځان کړه خاورې
نور په دې لاره کې بل ریاضت نشته
که مې هېر کړلې هر څه دې رانه هېر شي
څه به یاد کړم ستا له یاده فرصت نشته
شپه او ورځ د جنون درس وایه «راشده»
دا د عشق مکتب دی دلته رخصت نشته

د استاد حبیب الله رفیع را ستنېدل او د خلکو مینه

ګل رحمن رحماني

څه موده وړاندې د افغانستان نامتو څېړونکی، ادیب او لیکوال استاد حبیب الله رفیع په بهر کې له درملنې وروسته خپل هېواد ته راستون او د ولس له پراخ هرکلي سره مخ شو چې تر دننه یې هم ستاینې او هڅونې روانې دي. د دې تر څنګ یو شمېر کسانو دې موضوع ته له منفي لیده هم وکتل او نیوکه یې دا وه چې ګني ولې یې په رسمي کچه امارتي چارواکو هر کلی او پروتوکول تر سره نه کړ، په دې لیکنه کې به د همدې فرهنګي او ټولنیزې موضوع ځینو اړخونو ته تم شو.

لومړی بحث دا دی چې افغان ولس هېڅ وخت احسان هېروونکی نه دی، هر چا چې دغې خاورې، فرهنګ او ارزښتونو ته کار کړی او د ودې لپاره یې ژوند ورته وقف کړی دی، خلکو یې هم بدله په مینه او درناوي ورکړې ده او دا موضوع د استاد رفیع په راستنېدو کې څرګنده شوه، ده چې نږدې نیمه پېړۍ د ژبې، کلتور او علمي اثارو د بډاینې لپاره کار وکړ، ولس هم د درناوي ګلدستې او د عزت پګړۍ ورته وړاندې کړه، لا هم ډلې ډلې کور ته ور روان وي او هر کلی ورته وایي، باوري یم چې دغه عمل به د ناروغ استاد روحیې او حوصلې ته ستره معنوي تکیه او سکون ورکړی وي. د رسمي او نا رسمي بنسټونو له خوا د ده ستاینه او نمانځنه دا څرګندوي چې ولس ته او کار ته خدمت ورکه نه لري او د هغوی په تندي کې خپل مثبت غبرګون خامخا را څرګندوي.

ددې موضوع بل اړخ دا دی چې ولس اوس خپل ربښتیني مشران او پوهان پېژندلي دي، هغوی چې په ولس، فرهنګ او معنوي ارزښتونو یې سوداګري کړې، د نورو په ګټه یې قلم څرخولی، یا یې هم قومي او تعصبي مسایلو ته لمن وهلې، له حقیقتونو یې سترګې پټې کړې، هېڅکله هم د ولس په منځ کې ځای نه لري او نه یې هم تولید کړي اثار د کوم مثبت تحول او بدلون سبب کېدلی شي، تر دې دمه د دبستان، اکوسس، رسالت او نورو نهادونو له لوري د استاد هرکلي او نمانځنې څرګنده کړه چې د ربښتینو خادمانو قدم په ټوله معنی د ولس په لېمو دی.

دویم بحث هم د نیوکو په اړه و، چې ګني ولې یې له افغان شخصیتونو سره د اړیکې کمېسیون د راتګ هر کلی ونه کړ، دې موضوع تر ډېره پورې د استاد رفیع په شخصیت پورې تړاو درلود، د یوه شخصي یوټیوب چینل چلوونکي په ځانګړې مرکه کې همدا پوښتنه ورڅخه وکړه چې ګنې زنداني افغانستان ته ولې ستون شوې؟ استاد رفیع، چې کلونه کلونه ژورنالېست پاتې شوی، د پوښتونکي د پوښتنې حساسیت درک کړ او په خورا ښه او غابښ ماتوونکي ځواب یې ورته وویل چې دا زما ملت او هېواد دی، زه یو ملنګ سړی یم، هېواد ته تل ځم راځم، کوم پروتوکول او رسمي هرکلي ته اړتیا نه لرم، دا پنځوس کاله د خلکو تر څنګ په هر ډول حالاتو کې پاتې شوی یم.

بله دا چې د استاد ذ راستنېدلو خبر که څه هم خپور شوی و، خو استاد خپله دقیق وخت نه و په ډاګه کړی او ګویا ناڅاپي راستون شو، په داسې حالت کې طبیعي ده چې اړوند کمېسیون د هر کلي او رسمي پروتوکول لپاره څه نه شوی کولی، زه باوري یم که استاد او یا یې همکارانو خبر ورکړی و، په لوړه کچه به یې ډېر مشران مخې ته ورغلي وو. سربېره پر دې له راتګ سره سم د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مشرتابه چې د فرهنګي او خپرنیزو چارو معین صاحبان په کې شامل وو، د هغه کور ته د هرکلي، د ناروغۍ د پوښتنې او د عزت پګړۍ دور په سر کولو لپاره ورغلي وو، ورپسې شاعر او ادیب حافظ انس حقاني هم د هغه کور او پوښتنې ته ورغی، دا چاره خپله د اسلامي امارت د فرهنګي مسئولینو هر کلی او خوښي څرګندوي.

د استاد رفیع غوندې فرهنګي شخصیتونو هېواد ته را ستنېدل په لویدیځ کې هم د یو شمېر غرب مېشتو هېوادوالو له غبرګون سره مخامخ شوي دي، هغه چې په خپل راتګ سره د شته امنیت، سولې او د بیارغونې د روانو هڅو ستاینې کړې، په هغوی یې اور بل کړی دی او ښایي د دوی توقع به دا وه چې باید ستاینه ونه شي او هر څه منفي وښيي، څو د دوی هېواد دښمنه دریځ او قضیې پیاوړې شي، خو اصلي خبره دا ده چې لمر په دوو ګوتو نه پټېږي، دوی باید هغو واقعیتونو ته غاړه کېږدي چې نن په افغانستان کې پېښېږي، سمه ده چې ستونزې به موجودې وي، خو دا ستونزې نړۍ شمولې دي او د سیمې یا نړۍ په پرتله ورته د نیوکې ګوته نیول بې انصافي ده.

په پای کې مو هیله دا ده چې د استاد رفیع له فکر او پوهې څخه ځوانان مثبته ګټه واخلي، له ده سره سلفي تصویرونه، فېسبوکي ستاینې او تش د لیدلو سیالي زموږ د فرهنګ او علمي اړتیاوو کومه تشه نه شي پوره کولی، استاد که نن د سترګو تکلیف او د ناروغۍ ستونزې لري، ذهن او مغز یې فعال دی، اړتیا ده چې په علمي ناستو او سمپوزیمونو کې ورڅخه علمي پوښتنې وشي، د هغه پانګه تر ولسه ورسول شي او شتون یې د سیاسي او ځان ښودو شعارونو د استفادې لپاره ونه کاروو. پاک څښتن تعالی دې استاد ته کامله روغتیا او سوکالي ور په برخه کړي، دی د افغان فرهنګ او خاورې معنوي ویاړ دی.

د ملي کلتور د پیاوړتیا لپاره دې ادبي او فرهنګي هڅې ګړندۍ شي!

شېرمحمدامیني ستانکزی

په معاصر پېر کې ادبي او فرهنګي فعالیتونو ته د پخوا په پرتله ډېره پاملرنه کېږي. لیکوالان، شاعران او فرهنګي فعالان هڅه کوي، چې د قلم له لارې خپل رسالت ترسره کړي او ټولنه د پوهاوي، پرمختګ او روښانه راتلونکي پر لور رهبري کړي. د ادب او فرهنګ لارویان دې د خپلو فکري او علمي هڅو پر مټ داسې بنسټونه کېږدي، چې راتلونکو نسلونو ته د ودې او پرمختګ زمینه برابره شي.

ادبي او فرهنګي خوځښتونه د لیکنو، لوستنو، غونډو او رسنیزو فعالیتونو له لارې د خلکو د پوهاوي په لوړولو کې مهم رول لري. دغه بهیر د دې لامل ګرځي، چې ګټور معلومات، ارزښتمن افکار او ټولنیز پیغامونه په چټکۍ او اغېزمن ډول تر ولسه ورسېږي.

نن سبا فرهنګي او ادبي شخصیتونه هڅه کوي، چې پر وخت، کره او ګټور معلومات له خلکو سره شریک کړي. د دوی ډېر فعالیتونه د هغو موضوعاتو پر محور راڅرخي، چې د ټولنې فرهنګي وضعیت، ادبي پرمختګ او ټولنیز ارزښتونه څرګندوي.

کلتور د هرې ټولنې له مهمو معنوي شتمنیو څخه شمېرل کېږي. د خلکو دودونه، رواجونه، ارزښتونه او ټولنیز اصول د همدې کلتور تر سیوري لاندې وده کوي. هغه ټولنه، چې خپل فرهنګي هویت خوندي وساتي، د پرمختګ او ثبات لپاره قوي بنسټ لري؛ خو که یوه ټولنه له خپل کلتور څخه بې برخې شي، نو د پردیو اغېزو او فکري ګډوډیو له ګواښ سره مخ کېږي.

په تېرو کلونو کې د بهرنیو فرهنګونو اغېزې د رسنیو له لارې تر یوه بریده زموږ پر ټولنه هم محسوسې شوې دي. له همدې امله اړتیا ده، چې د خپل ملي او اسلامي کلتور د ساتنې او پیاوړتیا لپاره ګډې هڅې ترسره شي. دا دنده یوازې د فرهنګي او ادبي شخصیتونو نه ده؛ بلکې هر افغان د ملي احساس او ټولنیز مسئولیت له مخې مکلف دی، چې د خپل فرهنګي هویت د ساتنې ملاتړ وکړي.

ځیني کسان، چې بې له غوره د بهرنیو فرهنګي ارزښتونو او ارزونو خپلول او دودول غواړي، په حقیقت کې د خپلو ملي او دیني ارزښتونو اهمیت کموي. افغانستان یو اسلامي هېواد دی او افغاني کلتور یې د اسلامي اصولو او ملي ارزښتونو پر بنسټ رامنځته شوی دی. له همدې کبله باید د دې فرهنګي میراث د ساتنې او پراختیا لپاره دوامدارې هڅې ګړندۍ شي، څو زموږ کلتور د ناسمو بهرنیو اغېزو تر سیوري لاندې را نه شي او مخ پر ودې ودرومي.

رسنۍ په دې برخه کې ځانګړې مسئولیت لري. د دلهییزو رسنیو مسئولین باید د اسلامي او ملي ارزښتونو په چوکاټ کې د افغاني کلتور د ودې او ترویج لپاره اغېزمن پروګرامونه جوړ او پلي کړي. د رسنیو له لارې د ملي هویت پیاوړتیا نه یوازې د کلتور ساتنه تضمینوي؛ بلکې نړیوالو ته زموږ د ویاړونو ډک تاریخي او فرهنګي ارزښتونه هم ورپېژني.

اړینه ده، چې د هېواد هر وګړی د خپل فرهنګي مسئولیت احساس وکړي او د ملي کلتور د خپرولو او ساتنې په برخه کې عملي ونډه واخلي. که موږ خپل کلتوري ارزښتونه د هېواد تر لرې پرتو سیمو ورسوو او خپل هېوادني مسئولیتونه په صداقت ترسره کړو، نو ټولنه به مو د پرمختګ او بریا پر لور ګامونه واخلي او ولس به هم د دغو هڅو کلک ملاتړ وکړي.

له بلې خوا د فرهنګي یرغلونو د مخنیوي او د ملي ارزښتونو د ساتنې لپاره اړوندې دولتي ادارې، په ځانګړي ډول د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت باید لا ډېرې څرګندې تګلارې او عملي پروګرامونه جوړ کړي. دغه تګلارې باید د هېواد د فرهنګي اړتیاوو او ملي ارزښتونو له غوښتنو سره سمې، اغېزمنې او د کلتوري ودې لپاره مناسب فرصتونه برابر کړي.

په دې توګه به زموږ ادبي او فرهنګي هڅې لا پیاوړې شي او د هېواد ارزښتمن فرهنګي میراث به راتلونکو نسلونو ته په خوندي ډول انتقال شي.

داشتن جامعه سالم به پویایی شهروندان وابسته است

ادیب اندر

اجتماع یا جامعه به گروهی از انسان‌ها گفته می‌شود که بر اساس ارزش‌ها، علایق، اهداف، جغرافیا یا ویژگی‌های مشترک با یکدیگر ارتباط برقرار می‌کنند و ساختار منسجم از مناسبات اجتماعی را شکل می‌دهند.

انسان‌ها به شهادت تاریخ، موجودات اجتماعی اند. زندگی فردی در انزوا، نه‌تنها بقای فیزیکی انسان را تهدید می‌کند، بلکه مانع از شکوفایی ابعاد روانی، فکری و فرهنگی او می‌شود. از این رو، انسان‌ها از نخستین روزهای حیات خود بر روی زمین، گرد هم آمده‌اند تا با ایجاد ساختارهای اشتراکی، زندگی بهتری را برای خود رقم بزنند. این گردهمایی‌ها و پیوندهای متقابل، بستر پیدایش مفهومی به نام «اجتماع» شد. مفهوم اجتماع یکی از بنیادی‌ترین مباحث در علوم اجتماعی، جامعه‌شناسی و روان‌شناسی است. در دنیای امروز که با سرعت به سمت فناوری‌های دیجیتل و جهانی‌شدن در حرکت است، درک عمیق از چیستی اجتماع، ارکان سازنده آن و تحولاتی که پشت سر می‌گذارد، بیش از هر زمان دیگری اهمیت یافته است.

اجتماع را می‌توانیم چنین تعریف کنیم: (برای درک دقیق اجتماع، ابتدا باید به ریشه‌شناسی و تعاریف واژگانی آن پرداخت. در زبان ما (دری)، اجتماع از ریشه عربی «جمع» به معنای گرد آمدن، به هم پیوستن و متصل شدن اجزای متفرق است.)

در اصطلاح جامعه‌شناسی، اجتماع به مجموعه‌ای از افراد اطلاق می‌شود که در یک فضای جغرافیایی مشخص زندگی می‌کنند، فرهنگ و ارزش‌های مشترکی دارند و به واسطه شبکه‌ای از روابط متقابل اجتماعی، احساس هویت و تعلق مشترک میان آن‌ها شکل گرفته است. یک اجتماع صرفاً تجمعی از افراد غریبه در یک ایستگاه بس نیست؛ بلکه زمانی شکل می‌گیرد که میان افراد، تعامل، آگاهی از حضور یکدیگر و منافع یا اهداف مشترک پدید آید.

اجتماع، بازتاب‌دهنده ذات جمعی حیات انسانی و پل ارتباطی میان فرد و ساختارهای کلان جامعه است. از اجتماعات کوچک دهات گرفته تا انجمن‌های تخصصی بین‌المللی و گروه‌های بزرگ در دنیای مجازی، همگی نشان‌دهنده تلاش پایان‌ناپذیر انسان برای یافتن همبستگی، معنا و امنیت هستند.

یک اجتماع برای شکل‌گیری و تداوم خود به چند عنصر کلیدی و زیربنایی نیاز دارد. بدون وجود این ارکان، ساختار اشتراکی از هم می‌پاشد یا به یک تجمع موقت تبدیل می‌شود. این عناصر عبارتند از:

- افراد (عنصر انسانی) : پایه‌ای‌ترین جزء هر اجتماع، وجود انسان‌هایی است که مایل به برقراری ارتباط هستند.
- اشتراک (فرهنگ، ارزش یا هدف) : افراد باید در حداقل‌هایی مانند زبان، باورهای اخلاقی، حرفه یا اهداف زندگی با یکدیگر همسو باشند.
- تعامل متقابل: روابط مستمر و رفت‌وآمدهای اجتماعی میان اعضا، قلب تپنده اجتماع است.
- احساس تعلق (هویت جمعی) : اعضا باید احساس کنند که بخشی از یک کل بزرگ‌تر هستند و هویت آن‌ها به آن گروه گره خورده است.
- قوانین و هنجارهای غیررسمی: هر اجتماع برای مدیریت رفتار اعضای خود، قواعد رفتاری نانوشته‌ای دارد که عدول از آن‌ها موجب طرد یا سرزنش می‌شود.

در نهایت، می‌توان گفت اجتماع بسان یک موجود زنده است؛ روحی دارد که از پیوند قلب‌ها، اندیشه‌ها و رفتارهای انسان‌ها شکل می‌گیرد. اجتماع زمانی وجود دارد که تفکر «من» به تفکر «ما» تبدیل شود. از کوره‌های کوچک دهکده‌ها گرفته تا کلان‌شهرهای مدرن، انسان‌ها همواره به دنبال ساختن اجتماعات بوده‌اند تا تنهایی خود را پر کنند، به اهداف بزرگ دست یابند و معنای زندگی را بیابند. حفظ، تقویت و بهبود کیفیت روابط در اجتماعات، وظیفه هر عضوی است که می‌خواهد در دنیایی امن‌تر و در کلبه‌ای آرام‌تر زندگی کند.

څو شيبې له امام محمد بن الحسن الشيباني «رحمه الله» سره

ضياءالحق«حسان»

د ابو حنيفه رحمه الله د مذهب ليکوال او محرر محمد بن الحسن بن فرقد الشيباني دی او د ابو حنيفه رحمه الله په مذهب کې د هغو شپږو معتمدو کتابونو ليکوال دی چې په ظاهر الروايه باندې مشتمل دي.

حافظ ابن عبدالبر په (الانتقاء) کې وايي: دی په واسط ښار کې زېږېدلی او د بني شـــيبان ازاد شوی غلام و، ستر فقيه او لوی عالم و، نوموړي له مالک، ثوري او ځينو نورو څخه حديثونه ليکلي او له ابو حنيفه سره د ډېر وخت لپاره پاتې شوی، له هغه وروسته بيا له ابو يوسف سره پاتې کېدو، دی د ابو حنيفه او ابو يوسف د احاديثو او اقوالو راوي او د دوی پر مذهب ولاړ و او په همدې برخه کې نوموړی خپل ليکل شوي کتابونه هم لري.

امام شافعي رحمه الله به يې ستاينه کوله او غوره به يې ګڼل، هغه به ويل: ما چاغ/ مزی سړی له ده عقلمن نه دی ليدلی.

په کوفه کې را لوی شو او هلته يې له ابو حنيفه، مسعر بن کدام، سفيان ثوري، مالک بن انس، ابو عمرو الاوزاعي او قاضي ابو يوسف رحمهم الله څخه علم تر لاسه کړ، زيات حديثونه يې ورڅخه واورېدل او وېې ليکل. بيا بغداد ته لاړ هلته به ده ته خلک را تلل، حديثونه او د هغه فقهي اقـــوال به يې ورڅخه اورېدل، همدارنګه له ده څخه محمد بن ادريس الشافعي، ابو سليمان الجوزجاني، ابو عبيد القاسم بن سلام او ځينو نورو روايتونه اورېدلي او را نقل کړي دي. (تاريخ بغداد: ٢/ ١٧٢).

محمد بن الحســـن وايي: زما پلار په کور کې دېـــرش زره (٣٠٠٠٠) درهمه پرېښودل، زه را ولاړ شوم پنځلس زره (١٥٠٠٠) مې د نحوې او شعر او پنځلس زره (١٥٠٠٠) مې د حديثو او فقهې په زده کولو خرڅ او مصرف کړل. (تاريخ بغداد: ٢/ ١٧٣).

يحيـــی بن معين ورڅخه جامع صغير ليکلــی دی. (تاريخ بغداد: ٢/ ١٧٦).

د ابو يوسف له وفات وروسته په عراق کې د فقهې مشري ده ته ور په غاړه شـــوه، ډېر امامان يې شاګردان شول او فقه يې ور څخه زده کړه او ده ډېر کتابونه وليکل، دی د نړی له هوښيارو او تېز ذهنه خلکو څخه و. (مناقب ابي حنيفة وصاحبيه للحافظ الذهبي، ص: ٥٠).

امام محمد وايي: ما څه د پاسه درې (٣) کاله د امام مالک شاګردي وکړه او له هغه څخه مې نېغ په نېغه له اوو ســـوو (٧٠٠) څخه ډېر حديثونه اورېدلي دي. (تاريخ بغداد: ٢/ ١٧).

امام شافعي رحمه الله وايي: ما له محمد بن الحسن څخه د الله تعالی پر کتاب ډېر پوه نه دی ليدلی، که زه ووايم چې قرآن د محمد بن الحسن په ژبه را نازل شوی، نو دا خبره به د نوموړي د ډېر فصاحت له امله کوم. (تاريخ بغداد: ٢/ ١٧٥).

همدارنګه امام شافعي وايي: ما له محمد بن الحسن څخه د يو بختي اوښ د بار په اندازه کتابونه تر لاسه کړل او زياتوي چې زما په نظر په فقه کې له ټولو باوري او امانتدار کس محمد بن الحسن و. (تاريخ بغداد: ٢/ ١٧٦).

همدارنګـــه وايي: ما په حرامو، حلالو، علل، ناسخ او منسوخ کې له محمد بن الحســـن څخه ډېر پوه نه دی ليدلی. (اخبار ابي حنيفة و اصحابه للصميري، ص: ١٢٣).

بويطي له امام شافعي څخه را نقلوي، هغه وايي: د علم په تر لاسه کولو کې الله تعالی د دوو کسانو په توسط زما مرسته وکړه: په حديثو کې د ابن عيينه په توسط او په فقه کې د محمد بن الحسن رضي الله عنهما. (ذيل الجواهر المضيه، ص: ٥٢٧).

ديلمي وايي چې امام شافعي وويل: له محمد بن الحسن سره لس (١٠) کاله کېناستم او د يو اوښ د بار په اندازه علم مې ورڅخه تر لاسه کړ، که به يې موږ ته د خپل عقل او فکر په اندازه خبرې کولې، موږ به يې په خبرو نه پوهېدلو، خو ده به له موږ ســـره زموږ د عقلونو په اندازه خبرې کولې. (ذيل الجواهر المضيه، ص: ٥٢٨).

همدارنګه دی وايي: که فقهاء انصاف وکړي، نو په دې خبره به پوه شي چې له محمد بن الحسن يې ښه عالم نه دی ليدلی او زه تر اوسه تر ده له ښه عالم سره نه يم کېناستلی، د ده په څېر زما ژبه په فقه نه ده چلېدلې، هغه په فقه او د هغې په دلائلو کـــې دومره پوه او ماهر و چې لوی لوی علمـــاء ترې عاجز وو. (اخبار ابي حنيفـــة و اصحابه للصميري، ص: ١٢٤).

امام شافعي وايي: ما د محمد بن الحسن په کتابونو باندې شپېته (٦٠) ديناره خرڅ کړل (ومې پېرل)، بيا مې سم ولوستل او له هرې مسئلې سره په خوا کې مې يو حديث کېښود. (مناقب ابي حنيفة وصاحبيه للذهبي، ص: ٥١).

امام احمد بن حنبل وايي: که په يوه مسئله کې د درېيو کسانو قول راغی، بيا يې مخالفـــت کول نه دي په کار! چا ورته وويل: هغه څوک دي؟ ده ورته وويل: ابو حنيفه، ابو يوسف او محمد بن الحسن شيباني، ځکه ابو حنيفه له بل هر چا څخه په قياس ښه پوهېده، ابو يوسف په حديثو او د صحابه وو او تابعينو په اقوالو کې ښـــه پوهه او بصيرت درلود او محمد بن الحسن بيا له بل هر چا نه په عربي ادب کې ښه ماهر و. (الأنساب للسمعاني: ٨/ ٢٠٤).

ابراهيم الحربي وايي: له احمد بن حنبل څخه مې وپوښـــتل: دا دومره دقيقې مســـئلې دې له کومه زده کړې؟ هغه راته په ځواب کې وويل: د محمد بن الحسن له کتابونو څخه. (تاريخ بغداد: ٢/ ١٧٧).

د امام محمد رحمه الله ځينې شاګردان او ملګري وايي چې ده به په يوه شپه او ورځ کې د قرآنکريم درېيمه برخه تلاوت کاوه او د ده په اړه ويل کېـــږي چې ډېر زيات تېز ذهن يې و، پوره عقلمن او لوړ مقام يې درلود او ډېر قرآن يې لوست. (مناقب ابي حنيفة و صاحبيه للحافظ الذهبي، ص: ٥٩)

يوه ورځ امام کسائي او امام محمد بن الحسن له هارون رشيد سره (ری) سيمې ته ولاړل، خو هلته کسائي او محمد بن الحسن دواړه وفات شول، نو هارون رشيد سخت خفه شو او وې ويل: نن ورځ ما لغت او فقه دواړه خښ کړل. (تاريخ بغداد: ٢/ ١٨١- ١٨٢).

(ظاهر الروايه کتابونه)

د حنفي فقهې په کتابونو کې د (کتب ظاهر الروايه) کلمه ډېره تکرارېږي، نو هر زده کوونکي ته په کار ده چې د دې کلمې په مانا او اصلي مطلب ځان پوه کړي، د دې په اړه ابن عابدين شامي په خپله رساله (عقود رسم المفتي) کې داسې وايي:

و كتب ظاهر الرواية أتت
ستا و بالأصول أيضا سميت
صنفها محمد الشيباني
حرر فيها المذهب النعماني
الجامع الصغير والكبير
و السير الكبير والصغير
ثم الزيادات مع المبسوط
تواترت بالسند المضبوط
كذا له مسائل النوادر
اسنادها في الكتب غير ظاهر
وبعدها مسائل النوازل
خرجها الأشياخ بالدلائل

ژباړه: ظاهر الروايه چې اصول هم ورته وايي هغه شپږ کتابونه دي چې محمد شيباني ليکلي او حنفي مذهب يې په کې ځای پر ځای کړی. جامع صغير او کبير، ســـير کبير او صغير، بيا زيادات او مبسوط، چې په تواتر او قوي ســـند سره روايت شوي دي، همدارنګه نوموړی مسائل النوادر هم لري چې په کتابونو کې يې اســـناد څرګنـــد نه دی او له دې وروسته بيا مسائل النوازل دي چې علماوو په خپلو دلايلو سره تخريج کړي دي.

بيا امام شافعي د ده په حالاتو کې وايي: د احنافو مسئلې پر درېيو کټګوريو وېشل شوې دي: لومړۍ کټګوري: مسائل الاصول چې ظاهر الروايه هم ورته وايي، دا هغه مسائل دي چې د حنفي مذهب له والو څخه روايت شـــوې دي، لکه له ابو حنيفه، ابو يوسف او محمد بن الحسن شيباني رحمهم الله څخـــه او دوی درېواړو تـــه درې امامان (ائمه ثلاثه) ويل کېږي. له دوی سره ځينې نور کسان هم شته، لکه زفر، حسن او ځينې نور چې له ابو حنيفه رحمه الله څخه يې فقه زده کړې وي، خو ډېر وخت داســـې وي چې په ظاهر الروايه کې د دې درېيو کسانو او يا هم د ځينو قول يې راغلی وي. بيا دغه مســـائل چې ظاهرالروايه او مسائل الاصول ورته وايي هغه دي چې د امام محمد په کتابونو، لکه (١) مبســـوط (٢) زيادات (٣) جامع صغير (٤) جامع کبير (٥) سير صغير (٦) سير کبير کې راغلي وي او دې مسائلو ته ظاهر روايه ځکه وايي چې له محمد بن الحسن څخه ثقه راويانو روايت کړي دي او له ده څخه د تواتر او يا هم شهرت له لارې ثابتې دي.

